

زما ژوند
له کفر څخه تر اسلام پوری
(ناول)
لیکواله
ډیوه (همت لور)

زما ژوند
له کفر څخه تر اسلام
پوري

بسم الله الرحمن الرحيم

الله أكبر

# زما ژوند
# له کفر څخه تر اسلام
# پورې


ليکواله:

ډېوه همت لور



د چاپ کال: ۱۳۸۹ لمريز

خپروونکی :

مستقبل خپروندويه ټولنه

د دې کتاب ټول حقوق د خپروندوی سره خوندي دي

**د کتاب پېژندنه:**

**کتاب : ....زما ژوند له کفر څخه تر اسلام پوري**
**ليکواله: ................... ډېوه همت لور**
**کمپوز او ډيزاين : .............. د ليکوالي لخوا**
**کمپيوټر سمبالوونکی :...... ننګيالی همت**
**خپرندوی : ........... مستقبل خپرندويه ټولنه**
**د چاپ کال : .....۱۳۸۹ل. کال ( لومړی چاپ )**
**د چاپ ځای : ..........................(       )**
**د چاپ شمېر : ........................زر ټوکه**
**د کتاب بيه : ...................(       ) افغانۍ**

## له دې لنډې کیسې څخه
## زما موخه

لکه څنګه چې پوهېږو نن مهال په ټوله نړۍ کې، په ځانګړې توګه زموږ په ګران اسلامي هیواد افغانستان کې د اسلام او کفر (دجالي حکومت او رحماني حکومت)تر منځ په مستقیمه توګه خورا سخته جګړه روانه ده. موږ مسلمانان غواړو چې له خپل ویاړلي اسلامي فرهنګ او د اسلامي شریعت له قوانینو څخه چې تر ټولو غوره او د ټول عالم بشریت د دې او هغې دنیا د نېکمرغۍ تضمینوونکي دي دفاع او ننګه وکړو، ښېګڼې یې را څرګندې کړو او د مسلمانانو په ورځنیو چارو کې لکه څنګه چې دي هغسې یې د پلي کولو لپاره هلې ځلې وکړو.
خو کفر بیا د دې په خلاف نه غواړي چې خلک، په تېره لوېدیځوال د اسلام په ښېګڼو اوحقایقو پوه سي او غواړي چې خپل قوانین ټولې نړۍ ته غوره او صحیح څرګند کړي. په داسې حال کې چې دا یوه واضح او څرګنده خبره ده چې اسلام تر ټولو مذهبونو غوره، د امن، سولې، ورورولۍ او رحمت او عطوفت دین دی. خو په دې حقایقو باندې یې هغه کسان پوه دي چې د اسلام په هکله یې څېړنه کړې وي او هغه یې لکه څنګه چې دی هغسې درک کړی وي.
دلته په دې لنډه کیسه کې ما د اسلام د سپېڅلي دین ښېګڼې د یوې داسې ښځې له خولې بیان کړی دی چې لومړی عیسوۍ وه او د اسلام په هکله یې هیڅ معلومات نه درلود، خو کله چې دا

د اسلام په ښېګڼو خبره سي او د هغه په هکله مطالعه وکړي، نو بیا کرار کرار د دې د اسلام ټول قوانین خوښیږي او په دې ډول د دې زړه د اسلام لوري ته مایل کیږي او پای اسلام مني. دا کیسه یو رشتیاني بنسټ لري او دادی موږ اوس مهال خپله الحمد لله وینو چې د نړۍ په کوټ کوټ کې انسانان په خورا چټکۍ سره د اسلام لوري ته مخ اړوي او په دې سپېڅلي دین مشرف کیږي.

حقیقت دادی چې که چیري د اسلام دین په صحیح توګه بشپړ مطالعه سي، د هغه په هکله څېړنه وسي او په اصلیت یې ناخبره خلک پوه سي او هغه قوانین کوم چې د اسلام په شریعت کې موجود دي په حقیقي توګه پلي سي، نو تر اسلام، کوم چې ټولو نړۍ والو ته د لوی څښتن لخوا رالیږل سوی او غوره سوی دی، بل غوره او مناسب دین نسته.

په پای کې د خپلو ګرانو لوستونکو څخه هیله لرم چې که زما څخه په دې لنډه لیکنه کې کوم ځای تېروتنه سوې وي، مهرباني دې وکړي د هغې د سمون کوښښ دې وکړي او ما دې په خبره کړي.

له لوی څښتن ﷻ څخه هیله لرم چې زما دا کوچنۍ نا چیزه هڅه په خپل لوی او سپېڅلي دربار کې قبوله کړي.

د اسلام او مسلمانانو خدمتګاره
ډېوه همت لور

همت ټاټوبی، کابل
د ماښام ۲۰ : ۷ بجې
۱۳۸۹/۸/۱۳ل.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د شنبې په ورځ سهار وختي زموږ د کور پر مخامخ يوه کور ته چي د ډېرو وختونو څخه خالي وو ، يوه نوې کډه راغله. پر ما باندي ناوخته سوی وو. ځکه مي نو ژر ـ ژر ځان چمتو کړ او په خپل موټر کي د دفتر پر لور روانه سوم. پر لاري مي له ځانه سره ويل چي خدای دي وکړي چي دا نوي ګاونډيان سم خلک وي. ځکه د کور دروازه يې زموږ د کور د دروازې پر مخامخ وه او موږ ته ډېر نژدې وه. ټوله ورځ مي په دې هکله فکر کاوه. کله چي مازديګر کور ته راغلم او د خپل کور دروازې ته ودرېدم مخامخ مي وکتل، خو د ګاونډيانو هيڅ ږغ او ږوغ مي تر غوږ نه سو. زه خپل کور ته ولاړم، خپل کالي مي بدل کړل او د پخوا په شان برنډې ته ووتلم. شاوخوا مي کتل چي ناڅاپه مي د مخامخ کور په برنډه کي يوه ښځه وليده. هغې د مسلمانانو په شان کالي اغوستي وه، پوړنی يې پر سر وو، ډېر نوراني رنګ يې درلود او ډېره ښايسته هم وه. دې په برنډه کي کالي اوارول چي يوه کوچنۍ نجلۍ ور ته راغله او د هغې سره يې په بله ژبه خبري پيل کړې، او په خبرو خبرو کي دواړي په خونه ننوتلې. د دوی له دې کړو وړو څخه پوه سوم چي دا خلک مسلمانان دي. ما د مسلمانانو په هکله ډېر بد اورېدلي وه. کله چي مي دې معصومي ښځي ته وکتل، نو دستي مي په ذهن کي د خپل خاوند او نورو خپلوانو خبري را يادي سوې چي تل به يې ويل: په مسلمانانو کي ښځه هيڅ مقام او ارزښت نه لري، هغوی

ښځه د مينځي په شان استعمالوي. ښځي ته په اسلام کي هيڅ حقوق نه ور کول کيږي. ښځه تـل د دوی د مـذهب د لارښوونو سـره سم پټه ساتل کيږي او.... خو حقيقت دادی چي ما خپله د هيڅ مـذهب سـره تعصب نه درلود. اما زما خاوند د مسلمانانو سخت مخالف وو. تـل بـه يې ويل چي مسلمانان زموږ دښمنان دي او بايد سم چلند ورسره ونه کړو او ويې ځپو. خو ما خپله تل د حق پلوي کول او د هيڅ مـذهب پـه هکله مي بد فکر نه درلود. زه يوه ليکواله او څېړونکې وم. تـل بـه مي د نورو مذهبونو په هکله مطالعه کول. غوښتل مي چي په ټولو مذهبونو کي هغـه اصلي مـذهب پيدا کـړم کـوم چـي د حـق پـر بنسټ ولاړ وي. خـو يـوازنی مـذهب چـي مـا نـه وو څېړلـی او پـه هکلـه مـې معلومـات او مطالعه نه درلـوده، هغـه د اسلام ديـن وو. امـا د هغـه د څېړنـي لپـاره زه ډېره لېواله وم. ما د خپلو خلکو له خولې د اسلام پـه هکلـه ډېـري بـدي خبري اورېدلي وې. پـه تېـره مي د ښځي پـه هکلـه د اسلام د نظر پـه اړه خورا ډېر ناوړه تبليغات تر غوږو سوي وه. مثلاً ډېر مي اورېدلي وه چي ښځه پـه اسلامي کي هيڅ حقوق نـه لـري، پـر هغې بانـدي ډېـر ظلمونـه کيږي، له هغې څخه د يوې مينځي په توګه کار اخيستل کيږي او.... او لـه بلـي خـوا زمـا د خاونـد او زمـا د خپلوانـو هـم د اسـلام لـه ديـن او مسلمانانو څخه ډېر بد راتلل. ځکه نو ما هم د اسلام دين تـه پـام نـه وو اړولی او په هکله مې هيڅ مطالعه نه وه کړې.

کله چي ماښام زما خاوند کور ته راغی، نو د ډوډۍ خوړلو پر مهال يې راتـه وويل: "ماري! دلتـه لکـه چـي نـوي ګاونـډيان راغلـي دي او هغه هم مسلمانان دي".

ما ورته وويل: "هو! ما چي يې ښځه او کوچنۍ نجلۍ پـه برنډه کي وليدل، مسلمانان معلومېدل".

خاونـد مـي راتـه وويـل: "دا ډېـر بـد کـار وسـو، زمـا پـه نـړۍ کـي له مسلمانانو څخه بد راتلل او هغوی مي د کور څنګ ته راغله. اوس به زه هره ورځ دوی وينم، اوه خدايه! دا لعنتيان بيا له کومه سول؟"

ما ورته وويل: " پرېږده يې موږ يې څه کوو، نه به کار په لرو او نه به کار را لري، موږ ولي نا حقه ځانونه پرېشانه کوو".
خاوند مي راته وويل :" مقصد زما دا ومنه د دغو خلکو سره هيڅ کار مه لره. دوی زموږ ستر دښمنان دي، کېدای سي ژر بیر تـه ولاړ سي، کور يې په کرايه اخيستی دی، رانيولی يې نه دی".
سبا د رخصتۍ ورځ وه زه په کور کي وم، زما لور هم رخصت وه ښوونځي ته نه وه تللې. ما د کور کار مار وکړ او وروسته مي ځان پرېولی، کله چي مي په خونه کي خپل ورېښتان سمبالول د ځانه سره مي وويل هر رنګه چي وي زه بايد يو وار د ګاونډيانو پوښتني ته ورسم، څه دي چي هغوی مسلمانان دي انسانان خو دي. دا ډېر بد کار دی چي خالي پوښتنه پر ونه کړم. اخر موږ خو يې بيخي نژدې ګاونډيان يو. زما خاوند په خونه کي ناست وو، ما ورته وويل: " ګوره زه به يو واردې نوو ګاونډيانو ته ورسم، دا ډېر بد کار دی، بله ورځ زه بې کاره نه يم، نن پر کور يم، يو وار به ورسم".
زما خاوند راته وويل : " اوه! ورک يې کړه، د دغو کره ورتګ هم بې کاره دی، څه يې کوې؟ پرېږده چي دغسي پاتـه وي. کـه يو وار ورغلې نو بيا هغوی هم درتـه راځي. ښه به دا وي چي هيڅ اړيکه ورسره ټينګه نه کړې".
کله چي ما د خپل خاوند خبري واورېدې، نو پوه سوم چي د هغه په زړه کي د مسلمانانو په هکله ډېري ناوړي کرکي ځای نيولی دی او هغه په هيڅ حال کي د مسلمانانو سره اړيکه ټينګول نه غواړي. خو ما په دې خبرو هيڅ سر و نه ګرځاوه، خپل خاوند ته مي هيڅ ونه ويل، خو په زړه کي مي دا کار ډېر بد وګاڼه چي د هغو کور تـه ور نه سم . د ځانه سره مي وويل چي نه زه بايد د خپل خاوند په خبرو سر ونه ګرځوم. هغه جلا فکر لري او زه د جلا فکر څښتنه يم. په دې اند مي خپل دستکول د ځان سره واخيست او د هغو کور ته ولاړم.
کله چي د هغو دروازې ته ودرېدم کرار مي دروازه وروټکول. څو

شپېږ وروسته يوې کوچنۍ نجلۍ چې د مخه مې په برنډه کې هم ليدلې وه، دروازه را خلاصه کړه. هغې سلام را واچاوه او د دننه ورتلو ته يې وبللم. زه هم د ننه کور ته ورغلم. د هغو کور ډېر پاک وو، د څو شپېو لپاره هلته ولاړه وم چې د پخلنځي څخه هغه ښکلې ښځه چې تېره ورځ مې هم په برنډه کې ليدلې وه په مسکا سره راغله او په ډېره مهرباني سره يې روغبړ راسره وکړ او د ناستې لپاره يې بلنه راکړه. کله چې زه کښېنستم نو مې ورته وويل: " زه ستاسې د مخامخ کور ګاونډۍ يم. فکر مې وکړ چې تاسې نوي راغلي ياست، ځکه نو ستاسې د احوال اخيستلو لپاره راغلم، هو! ستاسې نوم څه دی؟".
هغې راته وويل: " زما نوم عايشه دی، موږ پرون دلته راغلو". ما ورته وويل: " زما په فکر تاسې مسلمانان ياست؟".

هغه په مسکا سوه او راته ويې ويل: " هو، موږ مسلمانان يو. دا څلور کاله کيږي چې له افغانستان څخه دلته راغلي يو. موږ پخوا د امريکا په يوه بل ښار کې اوسېدلو، خو اوس دلته راغلو او دا کور مو په کرايه ونيوی".

تر لږو خبرو کولو وروسته عايشه ولاړه او له هغې خوا يې چای راته راوړې. د چايو پياله مې پورته کړه، يو غړپ مې وکړ او ورته ومې ويل: " ستاسې خاوند څه کار کوي؟".

عايشې راته وويل: " هغه دلته د افغانانو سره په څه کوچنيو کوچنيو کارونو بوخت دی".

عايشې زما سره ډېره ښه رويه وکړه. ما ته يې ډېر عزت راکړ. چای يې راته راوړې او هيڅ داسې څه نه ځني ليدل کېدل، کوم چې موږ د دوی په هکله فکر کاوه. هغې په امريکا کې انګرېزي ژبه هم زده کړې وه او ډېره پوه مېرمن ښکارېده.

د عايشې درې کوچنيان وه، دوه زامن او يوه لور او له خپل خاوند څخه ډېره خوشاله معلومېده. زما د عايشې سره ډېر سات تېر سو کله چې د غرمې وخت رانژدې سو، نو مې عايشې ته وويل: "ښه

عايشې جاني ! زه به اوس درڅخه ولاړه سم، اوس مي هم ډېره له کاره وايستې".

عايشه په مسکا سوه او راته ويې ويل: "نه داسي هيڅ خبره نه ده زموږ مسلمانانو مېلمانه ډېر خوښيږي، هر کله راسئ. اوس پاته سه د غرمې وخت نژدې دی، ډوډۍ به زموږ سره وخورې، دا دي هم خپل کور دی".

زه لا نه وم ولاړه سوې چي له دباندي څخه يو ځوان چي لږ کوچنۍ ږيره يې هم درلوده، په کور راننوتی. هغه چي ماته وکتل، نو يوازي يې سلام واچاوه او په يوه خونه ننوتی. د هغه په ليدو مي له عايشې څخه پوښتنه وکړه: "عايشې جاني! دا سړی څوک دی؟".

هغې راته وويل: "څوک هغه، هغه زما خاوند دی".

د دې په اورېدو سره مي ورته وويل: "ښه زه به درڅخه ولاړه سم بيا به بله ورځ سره ګورو".

خدای ورشتيا چي په هغه ورځ مي د عايشې سره ډېر سات تېر سو. کله چي کور ته راغلم دستکول مي پر کوچ واچاوه او پخلنځي ته ولاړم، خاوند مي راږغ کړه: "د ګاونډيانو سره دي وليدل؟".

ورته ومي ويل: "هو! لکه څنګه چي مي فکر کاوه هغسي نه وه".

خاوند مي راته وويل: "هو، څه کوې، ته وايې چي مخامخ يې ښکنځل درته کړي وای".

ما ورته وويل: "نه داسي خبره نه ده، هغوی سم خلک معلومېدل. يو خاوند او مېرمن دي او درې يې کوچنيان دي، خپل کار کوي، ډېر ساده او آرام خلک معلوميږي".

خاوند مي راته وويل: "که زما منې د دوی سره شناخت مه کوه. مسلمانان ډېر خطر ناک وي، په ښکاره ډېر سپېره او ساده خلک معلوميږي، مګر هر وخت انسان غرقولای سي. په لومړيو کي يې خطر نه معلوميږي، خو وروسته يې انسان له نژدېکت څخه ډېر پښېمانه کيږي".

زه به سهار دفتر ته تلم او مازديگر به کور ته راتلم. ټوله ورځ به مي په کار کي ستړې ستومانه تېرېده. يوه لور مي درلوده چي ډونا نومېده. هغه به تر غرمې پوري په ښوونځي کي وه. کله چي به غرمه کور ته راغله د ډوډۍ خوړلو وروسته به بيا کورس ته تله.

يوه ورځ مازديگر زه په کور کي وم چي د عايشې کوچنۍ لور په پتنوس کي د شيدو يو غوري ورجي راوړې. ما چي هغه وليدلې ډېره خوشاله سوم، ځکه زما د شيدو ورجي ډېري خوښي وې، ما هغې ته وويل: " دا مو ماته راوړې؟".

کوچنۍ راته وويل: "هو! زما مور در ته استولي دي".

ما ور ته وويل: "خپلي مور ته دي زما سلامونه و وايه او ور ته ووايه چي زه که سبا مازديگر وسو ستاسي کره به در سم، بيا به ښه مجلس سره وکړو".

کله چي سبا مازديگر سو ما بيا ځان چمتو کړ او د عايشې کور ته ولاړم. د عايشې سره مي د مازديگر چای وڅښلې. هغه ډېره ښه ښځه وه. زما سره يې ډېر ښه چلند کاوه. هغه څه چي د دوی په هکله زمونږ په زړونو کي وه، هغوی له هغو ټولو څخه پاک وه. عايشې به زما سره داسي کړنه کول، لکه زه او دا چي له ډېر پخوا څخه پېژنو. ما عايشې ته د چای څښلو پر مهال وويل: " ښه عايشې! ما د مسلمانانو د ښځو د ژوند په هکله ډېري بدي خبري اورېدلي دي چي گوا کي د هغو نارينه د هغو سره ډېر بد چلند کوي. د هغو ښځي په خپل ژوند کي آزادي نه لري، بلکي د يوې مينځي غوندي اوسي، نو ستا ژوند د خپل خاوند سره څنگه دی؟".

عايشې راته وويل: " تا چي څه اورېدلي دي، حقيقت نه لري دا هر څه خالي تبليغات او ډنډوري دي. د اسلام دښمنان غواړي چي په دې ډول سره د اسلام نوم بد کړي. ښځه په اسلام کي ډېر اوچت مقام لري. ښځي ته په اسلام کي ډېر عزت ور کول کيږي. دا ټول تورونه يوازي د نورو مذهبونو د پيروانو د غولولو لپاره پر اسلام باندي لگول کيږي".

د دې خبرو په اورېدو سره ما ورته وويل: "ما خپله د نورو زياتو مذهبونو په هکله څېړنه کړې ده، خو د اسلام په هکله هيڅ معلومات نه لرم. د اسلام د دين په اړه مې د يوه او بل له خولې څخه ځينې خبرې اورېدلې دي".

عايشې راته وويل: "دا خو دونه خبره نه ده، ته پوه ښځه يې، ډېر کتابونه دې مطالعه کړي دي، که ته غواړې زه به ډېر ژر تاته د اسلام په هکله هم ډېر معلومات درکړم. ښه ماري ما تاته يوه خبره کول. زه غواړم چې خپل کوچنيان کوم ښوونځي ته شامل کړم. که چيري سبا ته وزګاره يې نو زما سره به ښوونځي ته د دې کوچنيانو په شاملولو کې مرسته وکړې".

ما ورته وويل: "ولې نه، سبا ماپښين به زه له کار څخه لږ وختي راسم، ولاړ به سو دوی به ښوونځي ته داخل کړو. خو اوس به زه کور ته ولاړه سم، ستا مجلس ډېر خوندور دی، زه خپله خو هيڅ نه په مړېږم".

زما د عايشې سره ډېر سات تېرېدی. هغې يو ډول جاذبه درلوده. زما زړه به غوښتې چې ټوله ورځ د هغې سره کښېنم او خبري ورسره وکړم. ما چې به د هغې سره هره موضوع راوا خيسته هغې به په خورا ښه او نرمۍ سره حلول. عايشه يوه باسواده مېرمن وه او ترڅنګ يې ډېره هوښياره او پوه هم وه. زما خاوند د دوی سره ډېر مخالفت ښووی. خو زه خپله په دې برخه کې آزاده وم. زما حق خوښ وو او تل مې د حق پلوي کول او د هيڅ مذهب سره مې کرکه او تعصب نه درلود.

سبا چې زه له کار څخه لږ وختي کور ته راغلم د عايشې کور ته ورغلم او ورته ومې ويل: " عايشې ! درځه اوس کوچنيان ښوونځي ته واچوو".

هغې راته وويل: "سمه ده ما هم د خپل خاوند څخه اجازه واخيسته، خو ګوره زما کوچنيان دلته بلد نه دي، دوی به يوه نژدې ښوونځي ته داخل کړو". د خبرو په بهير کې مي ورته وويل: " دوی به هم د ډونا ښوونځي ته واچوو، ځکه هغه هم ښه ښوونځی دی، هم ښه درس ورته

وایي او هم نژدې دی". خو عایشې راته وویل: "نه ماري! زه خپل کوچنیان په داسي ښوونځي کي داخلوم چي هلته نجوني او هلکان جلا جلا وي او په ګډه درس نه وایي. د نجونو او هلکانو یو ځای درس ویل ډېري ناوړي پایلي لري، او بل مو‌ږ مسلمانان یو، په اسلام کي د نجونو او هلکانو اختلاط منع دی. زه دوی داسي ښوونځي ته داخلوم چي هلته نجونو او هلکانو ته جلا جلا درسونه ویل کیږي".

ما ورته وویل: "که داسي خبره وي، نو دلته اسلامي ښوونځی هم سته. هلته نجوني او هلکان بېل بېل درسونه وایي. خو هغه ښوونځی لږ څه لیري دی، مګر خپل ټرانسپورټي وسایل لري. په دې کي هیڅ ستونزه نسته. خو زه درته وایم چي دوی د ډونا ښوونځي ته واچوه په دې شیانو کي هیڅ فکر مه کوه، دلته هر څه آزاد دي".

عایشې راته وویل: "نه! نه! په داسي ښوونځي کي کوچنیان د درس ویلو پر ځای نورو کارونو ته ډېر متوجه وي. او بل زموږ په دین کي دا کار ښه نه ګڼل کیږي".

ما یوه اوږده سا و ایستل او ورته ومي ویل: "سمه ده هر ډول چي ستا خوښه وي. که ته دوی اسلامي ښوونځي ته اچوې هلته دي د دوی سره خپل پلار ولاړ سي. ځکه د کوچني د نوم د ثبتولو لپاره د پلار نوم او لاس لیک هرومرو غواړي".

عایشې راته وویل: "خیر دی دوی به خپل پلار ښوونځي ته داخل کړي. اوس درځه چای وڅښو، ته مي پر ښو وچه کړې".

ما ورته وویل: "خیر دی، پروا نه لري، زه نو نور څه غواړم ستا د لاس خوندوري چای چي ماته راوړسیږي، نور نو زما سات تېر دی. پوهېږې عایشې! اوس په دې څو ورځو کي ما ستا سره داسي خوی نیولی دی، لکه زه چي دي له ډېر پخوا څخه پېژنم".

هغې راته وویل: "که رشتیا درته ووایم پر ما باندي هم ته ډېره ګرانه سوې یې. ښه دی چي دلته ته خو یې. که نه زه به ډېره یوازي وای. هو رشتیا ښه سو چي را په یاد سوه، ماري زما د کور لپاره لږ

څه سامان په کار وو، او دلته ما بازار هم نه دی لیدلی. د رخصتی په ورځ چي کله ته وزګاره اوسي، یو وار به بازار ته ولاړ سو. کوچنیانو ته به کالي ور واخلم او د کور لږ سامان مي هم په کار دی".

ما ورته وویل: "سمه ده زه هم لږ څه سودا لرم، او په هغه ورځ ماښام موږ یوه محفل ته هم خبر یو".

عایشې په اریانتیا سره راته وویل: "دا محفل څه وخت دی؟"

ما ورته وویل: "د شپې لخوا دی، ډېره غټه مېلمستیا ده، ته راسره ځې؟"

هغې راته وویل: "نه مننه !".

د عایشې په نه تلو مي لږ څه خوابده سوه او کرار مي ورته وویل: "ښه! ما ویل چي سات به دي تېر سي".

عایشه چي په ما پوه سوه، نو یې راته وویل: "نه ماري خوابدې کېږه مه. موږ داسي مېلمستیاوو ته چي هلته ښځې او نارینه یو ځای وي، نڅا او ګډا وي او شراب څښل کیږي نه ځو".

ما په اریانتیا سره ورته وویل: "ولي په دې کي څه خبره ده؟ ولا تاسي هم عجبه خلک یاست. د ژوند له هر ډول خوند څخه محروم یاست. ښه خیر خدای دي وکړي ستا د کوچنیانو کار وسي اوس به زه کور ته ولاړه سم".

عایشې ژر راته وویل: "ګوره سبا نه بل سبا به د خیره که خدای کول بازار ته ولاړ سو".

ما ورته وویل: "هو! د سهار لخوا به ولاړ سو، ځکه ماښام بیا هلته مېلمستیا ته ځو".

زه کور ته راغلم ټوله ورځ زما په ذهن کي د عایشې دې خبري ځای نیولی وو .چي د کوچنیانو لپاره ګډ درس ښه نه وي. د دوی لپاره یو ځای درس ویل ډېري ناوړي پایلي لري . نجوني او هلکان باید جلا جلا زده کړي تر لاسه کړي. زما دغه خبري په فکر کي راګرځېدې چي زما لور ډونا راته وویل: "مور! سبا نه بل سبا زما د یوه هم صنفي د زېږېدو

کليزه ده. زه غواړم چې هغه ته يو ښه ارزښتناک سوغات ور کړم. کله چې بازار ته ځې زما د هم صنفي لپاره هم يوه ښه ډېر ښه تحفه واخله".
ماورته وويل: "هغه بله ورځ دي هم د يوه هم صنفي کليزه نه وه؟".
هغې راته وويل: "هو! هغه خو بل څوک وو، خو دی زما ملګری هم دی. د ده لپاره بايد يوه ځانګړې تحفه واخلم. ځکه دی پر ما باندې تر هغه بل ډېر ګران دی".
کله چې ما د خپلې لور خبرې واورېدلې، نو مې ورته وويل: "سمه ده خو زويه يوه خبره واوره او هغه دا چې د هلکانو سره څوک ملګري نه کوي او تحفې نه ور کوي، ته ولې د نجونو سره دوستي نه کوې؟"
لور چې مې زما خبره واورېده،نو ډېره بده پر ولګېده او راته يې ويل: "مور دا ته څنګه خبرې کوې؟ هغه زما ملګری دی. دا خبره دې هم لکه چې له عايشې خاله څخه زده کړې ده، که څنګه؟ پلار خو ښه ويل چې مسلمانان ډېر تاريک فکره، بد خلک دي او په هر څه کار لري".
په هغه ورځ زما لور زما څخه خوابدې سوه. خو ما له ځانه سره وويل چې رشتيا هم د نجونو او هلکانو يو ځای والی ډېر خطرونه رامنځ ته کوي. کاشکي ما هم خپله لور د کوچنيوالي څخه په جلا ښوونځی کي داخله کړې وای. خو اوس دې کار امکان نه درلود. ځکه دا خبره نه زموږ په ټولنه کي بده ګڼل کېده او نه هم زموږ په مذهب کي بد کار وو. خو اوس زه د خپلې لور په هکله ډېره اندېښمنه وم، او فکر مي کاوه چې دا چې اسلام د نجونو او هلکانو د جلا جلا زده کړو په هکله لارښوونه کوي دا يې ډېر ښه کار دی، او ډېره ګټه هم لري. د ځان سره مي فکر کاوه چې زه به هم ډېره هڅه وکړم چې په يو ډول خپله لور له هلکانو څخه جلا کړم. که څه هم زه عيسوۍ وم؛ يعني په موږ کي دا کار بد نه وو، خو بيا هم زما د ښو اخلاقو او د پت اوعزت ته ژوند خوښ وو. ما به تل هڅه کول چې يو داسې ژوند غوره کړم چې په هغه کي د هر انسان عزت او آبرو خوندي وي. که څه هم زما د مذهب خلاف وي.

دوې ورځې تېرې سوې د رخصتۍ په ورځ سهار ما خپل ځان جوړ کړ. لنډه لمن او لنډ لستوڼی سور جامپر مې واغوست، ښه مې ورېښتان او ځان سمبال کړل. بيا د عايشې کور ته ورغلم. د عايشې خاوند په کور کې وو. هغه به تل زما سره له روغبړ پر ته نورې اضافه خبرې نه کولې. کله چې هغه په خونه ننووت، نو ما عايشې ته وويل: "عايشې! ستا خاوند ولې زما سره خبرې نه کوي؟ زما په هکله خو به يې څه نه وي اورېدلي، که څنګه؟"

عايشه په مسکا سوه او راته ويې ويل: "نه داسې کومه خبره نه ده. هغه د نامحرمه ښځو سره ډېرې خبرې نه کوي. د هغه د ښځو سره ډېرې خبرې کول نه خوښيږي".

ما چې د هغې خبرې واورېدې، ومې ويل: "اوه خدايه! څنګه ښه! کاشکې زما خاوند دغسې وای. هغه خو تل په نجونو او ښځو پسې وي. زما خپله داسې سنګين انسانان خوښ دي". عايشې په داسې حال کې چې د کوچنيانو د کالو په ټولولو بوخت وه راته وويل: "په موږ کې د نامحرمې ښځې سره ډېرې بې ځايه خبرې کول هم ښه کار نه ګڼل کيږي. ځکه نو زما خاوند چې تا ووينې سمدستي په بله خونه ننوزي. او ما هم تر اوسه پورې ستا خاوند نه دی ليدلی. دا له دې امله چې په اسلام کې د ښځو او نارينه وو تر منځ اختلاط منع دی".

ما چې د عايشې دا خبرې واورېدې نو مې ور ته وويل: "ډېر ښه! دا ډېر ښه کار دی. عجبه ده هغه کار چې زما تر هر څه ډېر خوښيږي هغه د اسلام په دين کې سته؟ خو له بده مرغه په موږ کې بيا دا کارونه عيب ګڼل کيږي. خير درځه چې ځو بيا ناوخته کيږي".

زه په دهليز کې ولاړه وم چې عايشه خونې ته ننوتله او له هغې خوا څخه يې سر تر پښو پورې تور حجاب کړی وو، راووتل. کله چې مې هغې ته وکتل، نو اريانه ور ته پاته سوم چې دې ښځې خپله ښکلا په دې تور حجاب کې څنګه پټه کړه. عايشې ته مې وويل: "دا څه کوې؟ موږ خو چې بازار ته ځو تر ټولو ښه او شوخې جامې

اغوندو، څو تر نورو ښه ځر ګندي سو. او تا خپله ښکلا په دې تور حجاب کي پټه کړه؟!"

هغې راته وويل: "ستاسي او زموږ فرق په دې کي دی. موږ مسلماني ښځي چي کله دباندي وزو حجاب کوو، څو خپل آبرو او عزت د خلکو له نظره خوندي وساتلای سو".

ما ورته وويل: "زما خپله همدغه چي تاسي يې حجاب بولئ نه دی خوښ. خدای چي ما ته ښکلا راکړې ده، ولي يې پټه کړم؟"

عايشې وويل: "اوه خدايه! اوس زه دا ښځه څنګه پوه کړم. دا سمه خبره ده چي خدای ﷻ ښکلا راکړې ده او هغه بايد پټه نه کړو، خو د نامحرمو خلکو په وړاندي بايد خپله ښکلا پټه کړو او خپل ستر خوندي کړو. ځکه په دې سره موږ خپله د ستونزو سره مخامخ کيږو. کله کله دا ښکلا د ښځي لپاره د ستونزو او کړاوونو لامل ګرځي. که چيري اوس دلته په امريکا کي ټولو ښځو حجاب کولای نو ستا خاوند به نورو ښځو ته نه کتلای. او اوس به ته هم د خپل خاوند له دې ناسم عمل څخه بې غمه وای. خو دغه لامل دی چي ستا خاوند نورو ښځو ته ګوري. خير در ځه دلته به ډېري خبري نه کوو، ناوخته کيږي".

ما چي عايشه په دغسي حالت کي وليده نو ډېره عجبه راته ځرګنده سوه. فکر مي وکړ چي ښايي په اسلام کي ښځه له دې امله خواره ده چي حجاب کوي. بيا مي له ځانه سره وويل چي نه هغه ځکه خواره ده چي هغې ته خدای ښکلا ور کړې ده، خو ځرګندولای يې نه سي. بيا مي د ځانه سره ويل چي د دې به په دې حجاب کي څنګه نفس تنګ وي. په زړه کي مي ډول ډول فکرونه راګرځېدل. زه په دغو فکرونو کي ډوبه وم چي عايشې راباندي بږغ کړه: "ماري! څه فکر کوې؟ لومړی به کوچنيانو ته کالي واخلو، بيا به نور سامان واخلو." ما ورته وويل: "آه! سمه ده در ځه".

موږ دواړي بازار ته ولاړو لومړی مو کوچنيانو ته کالي واخيستل.

بیا مو لږ د کور سامانونه واخیستل. کله چې مو ټوله سودا وکړه زما د خپلې لور تحفه را یاده سوه. نو مې عایشې ته ویل: "عایشې! اوس به زه د ډونا لپاره یوه تحفه واخلم. ځکه چې سبا د هغې د ملګرې د زېږېدو کلیزه ده".

زه او عایشه یوې مغازې ته ورو ختلو. عایشه یوه دوکان ته چې لوښي پکښې خرڅېدل ورغله او زه لږ څه مخته یوه بل دوکان ته چې ډول ډول شیان یې خرڅول ودرېدم. ما د تحفې لپاره شیان لټول چې ومې ولیدل چې یو څو لوچکان را روان دي. لومړی هغوی د عایشې تر څنګ تېر سوه. عایشې ته یې ولا نه کتل. کله چې ما ته راورسېدل، څنګه چې ما ښه سره کالي اغوستي وه، لڅې پښې، لڅ لاسونه وم، نو هغوی هم پر دغه دوکان ودرېدل. ما چې ورته وکتل، نو پوه سوم چې سم خلک نه دي. غوښتل مې چې ژر سودا وکړم او ګوښه ځنې ولاړه سم. خو هغو زما سره ډېره بې ادبي وکړه، تر دې اندازې چې زه یې اړه کړم چې له هغو څخه یوه ته چپلاخه هم ورکړم. کله چې ما یو په چپلاخه وواهه، نو ډېر خلک راټول سول او زه ډېره خړه سوم. هلته عایشې هم لیدلم. زه ورغلم او ورته ومې ویل: "عایشې! له دې ځایه څخه ژر درځه. دغه څو تنه ډېر بې ادبه دي. ما په هغو کې یوه ته ډېره بده چپلاخه هم ورکړه. درځه چې اوس کیسه نوره اوږده نه سي".

زه او عایشه له بازار څخه راروانې سوو. عایشې پر لارې پر ما باندې خندل. زه خپله ډېره پرېشانه وم. کله چې مې عایشه ولیده چې پر ما باندې خاندي نو مې ورته وویل: "عایشې! زه داسې پرېشانه یم او ته را باندې خاندې؟".

هغې په مسکا سره راته وویل: "نه! نه! داسې خبره نه ده. زه پر دې باندې خاندم چې هغوی زما تر څنګ هم تېر سوه. ما ته یې هم یو څو خبرې وکړې. خو څنګه چې ما ښه کالي نه وه اغوستي او حجاب مې کړی وو، ځکه نو تر ما ته ښه ورته څرګنده سوې او تا ته درغله".

ما په قهر سره ورته وویل: "دلته حجاب څه معنا لري. تا چې حجاب کړی وو هغه دی تاته یې هم خبري کړې دي".

عایشې راته وویل: "خبري خو یې راته وکړې، خو څنګه چې ما حجاب کړی وو هغو ته زه دومره ښه څرګنده نه سوم لکه څنګه چې ته په لڅو کالو کې ورته معلومه سوې".

ما ورته وویل: " سمه ده درځه چې ځو، نوري خبري به په کور کې وکړو".

زه او عایشه له بازار څخه د کور پر لور رواني سوو. ټوله لار ماته خپل ځان ډېر بد ایسېدی. د عایشې په خبرو کې یو ډول جاذبه وه چې زه یې د ځان لوري ته جذبولم. زه نه پوهېدم چې نن ولې ماته خپل ځان ډېر بد معلومېدی. زړه مي غوښت چې زه هم ځان داسي پټ کړم لکه څنګه چې عایشې پټ کړی وو، او د خلکو له بدو سترګو او خړو کتو څخه خپل پت او عزت خوندي کړم. عایشه ډېره ښه او سنګینه معلومېده او په عین حال کې هغه تر ما ډېره بې غمه او هوسا روانه وه. د عایشې ټوله آبرو او عزت د هغې په حجاب کې خوندي وو، خو زما عزت لکه د لوبو نې غوندي د خلکو په واک اوملکیت کې وو.

کله چې کور ته راغلم. ټوله ورځ مي د بازار هغه پېښه سترګو ته جګه ولاړه وه. هغه بازاري، ایله ګښته او کوڅه دربي لغړیان مي په فکر کې وه. که څه هم دا لومړی ځل نه وو چې دغسي کسانو زما سره بې ادبي کړې وه، خو دا ځل د عایشې خبرو پر ما باندي ډېره اغېزه وکړه. او هرځل به مي د هغې خبري را یادېدلې. څنګه چې ماښام مور، مېلمستیا ته هم خبر وو. نو ما لومړی ډونا د خپلي مور کور ته بوتله. ځکه داسي مېلمستیاوو ته کوچنیان نه بېول کېدل. بیا راغلم په کور کې مي ځان جوړ کړ. ښه ښایسته تور رنګه ماکسي مي واغوست. زما خاوند هم ښه توره دریشي وکړه او بیا مور، دواړه ماښام په خپل موټر کې مېلمستیا ته ولاړو. په مېلمستیا کې نور ډېر

خلک هم راغلي وه. ټولو ښې ښې جامې اغوستې وې، ښه ډوډۍ یې کړې وه. موږ ټولو د ماښام ډوډۍ وخوړل. تر ډوډۍ خوړلو وروسته راغلو مېلمنو ښه نڅا وکړه. ډېر شراب یې وڅښل. زما خاوند هم د ډېرو نجونو سره نڅا وکړه او ډېر شراب یې وڅښل. زما خاوند د ډېرو شرابو څښلو له امله نیشه وو. ما چې به خپل خاوند ته وکتل نو ډېره به په غوسه سوم. نن ماته دا کارونه ډېر بد ښکارېدل. زړه مې غوښت چې له دې مېلمستیا څخه هر څه ژر بېرته کور ته ولاړه سم. نه پوهېدم چې نن ولې دې مېلمستیا هیڅ خوند نه راکاوه. ډېره اسې او نحسې وم. ما نه غوښتل چې نورې ښځې دې زما د خاوند سره نڅا وکړي. خو زما د خاوند دا کارونه ډېر خوښ وه. هغه به د نڅا په بهیر کې کله ناکله ماته هم اشاره کول، چې زه هم نڅا ورسره وکړم. خو ما به له لیرې ډېر بد بد ورته کتل. که څه هم دا لومړی ځل نه وو چې زما خاوند د نورو ښځو سره نڅا کول، خو نن ماته دا کار تر پخوا ډېر بد ښکارېدی. په دې وخت کې ماته د عایشې خبرې را یادې سوې چې ویل یې:

"په اسلام کې دا ډېر غوره او ښه کار دی چې د ښځو او نارینه وو تر منځ ګډه ناسته پاسته منع ده. زموږ په مېلمستیاوو کې ښځې او نارینه جلا جلا کښېني".

خدای ورشتیا چې په دې وخت کې ماته د اسلام دین تر خپل دین ډېر غوره ثر ګند سو. ځکه په اسلام کې انسانانو په پت او شرافت کې ژوند کاوه، خو زموږ په مذهب کې خلکو خپل عزت او شرافت له لاسه ور کړی وو. اسلام ماته د ښو اخلاقو یو غوره او سپېڅلی دین ثر ګند سو. کله چې زه او زما خاوند کور ته راغلو، نو زما خاوند راته وویل: "څنګه ډېره خوندوره مېلمستیا نه وه؟ زما خو ډېر سات پکښې تېر سو. ماري ته څنګه یې، ستا هم سات تېر سو؟".

څنګه چې زه له سهاره لا اسې او نحسې وم او ډېره په غوسه وم، نو مې ورته وویل: "نه زما هیڅ سات نه دی تېر سوی. زما ستا حرکات

هيڅ خوښ نه سول. تا بايد له هغو نجونو سره داسې نښانه واې کړې. ته پوهېږې چې زما دا کارونه نه خوښيږي، خو ته يې بيا هم کوې".

خاوند مې راته وويل: تـه دا خبري لـه کومـه راهيسي کوې؟! دا خو لومړی مېلمستيانه ده چې موږ ورځو او زه د نجونو سره نڅېږم ؟!".

ما ورته وويل: "زه پوهېږم چې دا لومړی مېلمستيا نه ده چې ته دا کارونه پکښې کوې. خو اوس زما داسې کارونه نه خوښيږي. دغه شراب څښل او د نجونو سره نڅا کول دا ډېر ناوړه کارونه دي. اخر به زه تر کومه تاته نور صبر کوم".

کله چې زما خاوند زما دا نوي خبري واورېدلې، نو راته ويې ويل: " تـا لکـه چې دا چټي خبري هم لـه هغي مسلماني ښځي څخـه زده کړي دي. ګوره! دا خبري د هغو لپاره بدي دي. موږ پـه دې برخـه کي آزاد يو. زموږ دين موږ تـه د دې کار کولو اجازه راکړې ده، نو موږ ولي دا کار بد وګڼو؟".

پـه داسې حال کي چې خپلـه غاړګی مې لـه غاړي ايستل، ورتـه ومې ويل: "دا خو ضروري نه ده چې موږ ټول هغه څه ومنو کوم چې زموږ دين يې موږ ته لارښوونه کوي. هر څه چې حق دي موږ بايـد هغه ومنو. موږ بايد هغه څه ومنو چې د هغه په واسطه انسان، انساني ژوند کولای سي".

د دې خبري پـه اورېدو سره مې خاونـد پـه قهـر سره راتـه وويـل: "بس چټيات مه وايه! ډېري دي وکړې. زما اعصاب مه خرابوه. زه بيدېږم، تا څه خوشي بې هوده خبري را اخيستي دي!!".

پر دې خبرو باندي زما او زما د خاوند تر منځ سخت جنګ وسو. ټوله شپه مي په دې هکله فکر کاوه. بيا به مي له ځانه سره ويل چې اخر دا ولي زما زړه د اسلام لور ته تمايل ښيي. خو په ځان نه پوهېدم چې څه وکړم. بس له هغو کارونو څخه مي بد راتلـه چې اسلام منع کړي دي او هغه کارونه مي خوښېدل چې په اسلام کي روا دي. زړه مي ډېر غوښتل چې د اسلام قانون پر ځان پلي کړم. خو دا کار زما

لپاره آسانه نه وو. ځکه زه پوهېدم چې د دې کار له امله د ډېرو سختو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کېږم. ډېرې بخولې او غمونه به ګالم. ځکه مې نو هيڅ نه ويل، خو په زړه کې مې په ټينګه د اسلام د سپېڅلي دين سره مينه ساتل.

هو، دا مسلمانه او د اسلامي حجاب د تقدس په پټ او عزت کې نغښتې عايشه وه چې خبرو او کړنو يې زما د زړه تياره ګوټونه روښانه کړل او دغې سپېڅلې مينې په دغه توګه ځای پکښې وموند.

☆ ☆ ☆

بله ورځ زه د عايشې کور ته ورغلم. د چای څښلو پر مهال مې په خبرو خبرو کې ورته وويل: "عايشې! ته دا راته ووايه چې ستاسې دين د عبادت په برخه کې څنګه دی؟ مطلب دا چې آسانه دی او که څنګه؟ يعنی ستاسې دين د عبادت په برخه کې ډېرې آسانتياوې لري او که زموږ دين ؟".

عايشې راته وويل: " عجبه پوښتنه دې را څخه وکړه. دې ته دې بيا څنګه پام سو؟". ما ورته وويل: " عايشې ته خو پوهېږې چې ما تاته دمخه هم ويلي وه چې ما د ډېرو مذهبونو په هکله څېړنه کړې ده، او غواړم چې د هغه مذهب پلوي وکړم کوم چې پر حق دی او د نورو مذهبونو په پرتله ډېرې ښېګڼې ولري. او اوس غواړم چې ستاسې د مذهب په هکله هم ډېر معلومات تر لاسه کړم، ځکه مې نو دا پوښتنه وکړه".

عايشې راته وويل: "سمه ده زه به په دې هکله هم معلومات در کړم. زه تاته حقيقت وايم چې ستاسې تر دين زموږ دين ډېرې آسانتياوې لري". د عايشې د دې خبرې په اورېدو سره ما ژر ورته وويل: "ولې؟ زه خو تاسې وينم چې بسته يوه مياشت روژه نيسئ، پنځه وخته لمونځونه کوئ. همدا راز زياتره شيان پر تاسې لازم ګڼل

سوي دي، لکه د ښځي او نارينه بېل والی، د ښځي حجاب کول، د نارينه وو ډېري ښځي په نکاح کول او داسي ډېري نوري خبري ستاسي په دين کي سته. نو ته څنګه وايې چي ستاسي دين آسانه دی، د دې آسانتيا په څه کي ده؟".

عايشې راته وويل: "ستاسي په مذهب کي خو هم ډېر داسي شيان سته چي ستاسي لپاره منع کړل سوي دي. خو زموږ او ستاسي دمذهب توپير په دې کي دی چي زموږ په مذهب کي مسلمانان پر هغو اوامرو باندي عمل هم کوي. خو تاسي بيا پر هغو شيانو باندي چي در ته ويل سوي دي عمل نه کوئ، او تاسي هر هغه څه کوي کوئ چي ستاسي په ګټه وي. او د هغو شيانو په هکله چي زموږ په مذهب کي ناروا ګڼل سوي دي بايد ووايم: که چيري موږ متوجه سو نو اوس د نوي ساينس او ټکنالوژۍ په دور کي ټول هغه شيان تاواني ثابت سوي دي کوم چي څوارلس سوه کاله دمخه حرام ګڼل سوي وه. د مثال په ډول د شرابو څښل زموږ په مذهب کي حرام دي. خو اوس چي ساينس پوهانو او ډاکټرانو څېړنه کړې ده، دوی ته جوته سوې ده چي د شرابو څښل ډېر تاوانونه لري. زموږ په مذهب کي نشه حرامه ده . ځکه لومړی ستا له نشې څخه بد راځي او د خپل خاوند له نشې کولو څخه پر نفس راغلي يې. او بل اوس ټولو ته څرګنده سوې ده چي نشه انسان له کاره باسي. نشه يي انسان نه خپل کار کولای سي او نه هم بل څوک ښه ځني وړي. هسي د ټولني د اوږو بار وي. همداراز په اسلام کي د ښځو او نارينه وو اختلاط حرام ګڼل سوی دی او .... که چيري دا نن ستاسي په هيواد کي ستاسي خلک دغه شرعي قوانين پر ځانونو عملي کړي، نو بيا به وګورې چي د فساد کچه څونه را ټيټيږي".

کله چي عايشې ماته په خورا ډېره فصيحه توګه دغه څرګندوني وکړې، نو ماته دستي د هغي تېري شپې مېلمستيا را په ياد سوه چي خاص د شرابو جامونه پکښې پور ته کېدل او شرنګېدل، ټول رابلل

سوي په نشو کي غرق وه، هره خوا سندري، نڅا او ګډا وه، ټولو ښځو لڅي جامې اغوستي وې او هیڅوک هم په ځان نه پوهېدی او نه پوهېدی چې څه کوي.

ما فکر کاوه چې د مسلمانانو ښځې به له خپل دین څخه خوشاله نه وي. خو کله چې مې د عایشې سره لږ وخت تېر کړ، نو پوه سوم چې داسي نه ده. هغوی روحاً ډېري آرامي دي. د هغو ژوند له ډېرو ناوړو ستونزو څخه پاک دی، او ډېر د عزت او شرافت ژوند تېروي. هغو ته واقعاً ستر مقام او ارزښت ور کړه سوی دی. او زموږ ښځې یوازي د یوې لوبوني په شان استعمالیږي.

عایشه به له اړتیا پرته د کور د باندي نه وتل، او نه به یې د پردي سړی سره بې ځایه خبري کولې. تل به یې اسلامي جامې اغوستي وې او د خپل رب په عبادت به بوخته وه. خپل کوچنیان یې په اسلامي ښوونځیو کي اچولي وه. او تر څنګ به عایشې په کور کي قرآن کریم او نور کتابونه هم ور ته ویل. دوی دواړو مېرمني او خاوند په یوه خوږه فضا کي خپل ژوند کاوه. خو زما په کور کي مې نه لور په خوله کول او نه یې پلار ږغ ور ته کاوه. نه خاوند زما هم نظره وو ، او نه زه د خپل خاوند هم فکره وم. له دې امله به تل په کور کي شخړې او جګړې رامنځته کېدلې. زه به زیاتره تر مازدیګره په خپل دفتر کي وم او خاوند به مي هم د شپې له کاره کور ته راتی. لور به مي غرمه کور ته راتله او بیا به تر ډوډۍ خوړلو وروسته بېر ته د باندي وتل.زه به د پیسو ګټلو لپاره دومره بوخته وم چې نه به په خپل خاوند خبرېدم چې چیري وي او څه کوي. او نه به په لور خبره وم. زموږ د هر یوه موخه یوازي پیسه لاسته راوړل وه او بس.

یوه ورځ زه په کور کي وم، په خپله برنډه کي مي لاندي کتل چې ناڅاپه مي یو سور موټر ولیدی. له هغه څخه زما لور ډونا راکښته سوه. د هغې سره یو ځوان هلک هم راکښته سو . دوی دواړو د موټر مختنه ښه ډېري خبري وکړې، او بیا دواړو خدای په اماني سره واخیسته.

زما لور کورته راوختل. کله چې مې لور کورته راغله ما پوښتنه ځنې وکړه: "زويه! چيرې تللې وې؟". ډونا په بې پروايې سره راته وويل: "دغسې د سات تېرولو لپاره د باندې وتلې وم". ما ورته وويل: "دا هلک څوک وو چې ته ورسره راغلې؟". ډونا په داسې حال کې چې پر خپل کټ ناسته وه او د څپلۍ تسمې يې خلاصولې راته وويل: "څوک جاک! هغه زما ملګرى دى، هغه زه تر کوره راوستلم".

د دې خبرې په اورېدو سره ما ورته وويل: "زويه! ته اوس دونه غټه سوې نه يې چې په خپلو ښو او بدو پوه سې. د داسې هلکانو سره مه ګرځه".

ډونا په داسې حال کې چې اورېده سا يې وکښل راته وويل: "اوه، مور هغه يوازې زما ملګرى نه دى، بلکې زما هم صنفي هم دى. ته عجبه خبرې کوې. زه د چا سره وګرځم؟ يوازې خو زه د هلکانو سره نه ګرځم، زما ټولې دوستانې د هلکانو سره ګرځي او په دې ګرځېدو کې ستونزه څه ده؟".

ما په ډېره نرمې سره ورته وويل: "سمه ده چې هغه ستا هم صنفي دى. د هغه سره په ښوونځي کې ګرځېدل بد کار نه دى، خو نور وختونه مه ورسره ګرځه دا کارونه زما نه دي خوښ".

کله چې ډونا زما دا خبره واورېده، نو سمدستي په قهر سوه او راته ويې ويل: "اوه، بسته مور! ما ډېره مه په عذابوه، پرېږده چې لږ آرام وکړم....".

زه د خپلې لور د دې حرکاتو په ليدو ډېره خوابدې سوم. نه پوهېدم چې څه وکړم او څنګه يې پوه کړم. زما لور د پنځلسو کالو وه. هغې اوس زما هيڅ خبره هم نه منل. ځکه چې هغې ته دا کار هيڅ بد نه معلومېدى. او بل زموږ قانون او محيط هم داسې وو. ما فکر وکړ چې دا موضوع به زه د خپل خاوند سره شريکه کړم او د دې لپاره به د حل يوه لار پيدا کړم، څو زما د لور عفت او عزت خوندي سي.

کله چې د شپې زما خاوند کور ته راغى. نو ما هغه ته د ډونا په

هکله ټوله کیسه وکړه او دا مي هم ورته وویل چي کاشکي دا داسي ښوونځي ته داخله کړو چي هلته یوازي نجوني درس وایي . خو زما خاوند په ډېره بې پروایي سره راته وویل: " دا خو دونه د اندېښنې وړ خبره نه ده. پرېږده چي هر څوک په خپل ژوند کي آزاد واوسي تـه څه کار په لرې؟".

ما ورته وویل: "خو زموږ لور نجلۍ ده، د هغې لپاره داسي بې ځایه ګرځېدل ښه کار نه دی".

خاوند مي راته وویل: " اوه، ته ولي داسي د لېونیانو خبري کوې. هغې خو کوم بد کار نه دی کړی. یوازي د یوه هلک سره ګرځېدلې ده. هغه یې دوستان دي، د چا سره وګرځي؟ او پاته سو د ښوونځي خبره. دا سمه خبره نه ده.ما او تا هم یو وخت په دغسي ښوونځیو کي زده کړي کړي دي اوس په ما او تا څه سوي دي؟"

ما په داسي حال کي چي له ډېري خواشینۍ مي خپل لاسونه موښل ورته وویل: " زه خپله هم نه پوهېږم چي ولي اوس له دې کارونو څخه ډېره بېرېږم او دا کارونه مي نه خوښېږي. داسي نه چي سبا مي لور په ناوړو کاورنو بوخته سي. زه دخپلي لور په هکله ډېره اندېښمنه یم".

بله ورځ زه بیا د عایشې کور ته ورغلم. او دا خبري مي هغې ته هم وکړې. هغې راته وویل: " ماري! ته خو بیخي ټوله ورځ په خپل کار اخته یې، د خپلي لور لپاره هیڅ وخت نه لرې. هغه چي غرمه کور ته راسي، په کور کي هیڅوک نه وي، نو خود به بیر تـه لـه کـوره وزي او د هلکانو سره به ګرځي".

ما ورته وویل: " څه وکړم د لور لپاره کار پرېږدم؟!".

عایشې راتـه وویـل: "ولـي تـه تـر اولاد پیسـو تـه ډېـره تـرجیح ورکوې؟ زه چي کـار نـه کـوم پـه مـا څـه سوي دي ؟ هر څـه چـي تـه خورې ماته هم رارسیږي. زه نه وایم چي ګرد سره کار پرېږده، بلکي کار دي ترغرمې پوري کړه. غرمه د لور لپاره کور ته راځه. هم دي کار کوه او هم د خپل اولاد روزني ته پاملرنه کوه".

ما عایشې ته وویل: "ترغرمې پوري د کار کولو معاش لرېږي".
عایشې راته وویل: "نور نو زه څه نه در ته وایم، تاسي پیسو ته بیخي ډېر ارزښت ور کوئ. ته پوهېږې کار دي، هر رنګه چي ستا خوښه وي".
د عایشې د دې خبري په اورېدو سره مي ورغبرګه کړه: "عایشې ته ښه وایې. زه باید خپل کار تر غرمې پوري کړم. که یې څه هم پیسې لږ دي، خو څه وکړم مجبوره یم. نور زه خپله لور داسي یوازي نه سم پرېښولای".
عایشې چي زما داخبره واورېده راته ویې ویل: "ته خو یوازي کار نه کوې، ستا خاوند خو هم کار کوي. او زما په اند ستاسو درو تنو دا پیسې ډېري ښې بسیږي".
ما ور ته وویل: "نه، زما او زما د خاوند پیسې جلا دي. نه زه د هغه په پیسو کار لرم او نه هغه زما پیسې راڅخه اخلي. موږ یو د بل په پیسو کار نه لرو".
عایشې چي دا خبره واورېده، نو په مسکا سوه او راته ویې ویل: "څه وایې! عجبه ده!! ستاسي د هر یوه پیسې او خرڅ جلا جلا دی. په موږ کي یوازي زما خاوند کار کوي او هغه د ټول کور خرڅ هم ور کوي".
ما په داسي حال کي چي د چایو له پیالې مي غوړپ وکړ، په مسکا سره ور ته وویل: "څنګه ښه! کاشکي زموږ دا هم داسي وای. اوس به زه دونه ستړې نه وای. ته څنګه ښه بې غمه یې. ګرده ورځ په کور کي آرام کوې. موږ ته وګوره کری ورځ مو پر سر اخیستې، ور ک یو نه خاوند په مېرمني خبریږي او نه مېرمن په خاوند او اولادونو باندي خبریږي. کله چي د شپې راسو نو ستړي یو ژر بیده سو. بیا مو بله ورځ هم دغه حال وي. هیڅ د ژوند په خوند نه پوهیږو".
په هغه ورځ چي زه د عایشې له کوره خپل کور ته راغلم، نو له ځانه سره مي پرېکړه وکړه چي نور به تر غرمې پوري کار ته ځم. ځکه ما غوښتل چي تر دې وروسته لږ وخت د خپلي لور سره په کور کي هم تېر کړم. او بل زه ډېره ستړې هم وم. زما زړه غوښتی چي

د عایشې په شان په کور کې لږ آرام ژوند وکړم. او خپله لور وروزم، د خپل کور مسؤولیت پرغاړه واخلم. خو زموږ په ټولو خلکو کې کار کول دود وو. کومې ښځې چې به کار نه کاوه هغه به د هغې لپاره عیب ګڼل کېدی. کله چې ما خپل خاوند ته د خپلې پرېکړې په هکله وویل، نو هغه سخت مخالفت وښود. او راته ویې ویل: " ته خطاوزې تاته بیا دا کار نه پیدا کیږي. که ښه کوې خپل کار دې کوه. غرمه تر ماښامه پورې په کور کې څه کوې؟"

ما ورته وویل: "نه، زه ډېره ستړې یم. او بل غواړم چې د ډونا سره لږ وخت په کور کې تېر کړم. زړه مې نه غواړي چې هغه دغسې یوازې پرېږدم. او بل ډېره پیسه د انسان په څه درد خوري. ماته تر پیسو زما اولاد ډېرار زښت لري".

زما خاوند چې زما دا خبري واورېدې، نو یې راته و ویل: "ماري! ته ورځ په ورځ اوړې. اوس خو بیخي بل ډول خبري کوې. داسې خبري دې رااخیستي دي چې په موږ کې هیڅ نسته. نه پوهېږم چې څنګه دې دې خبرو ته پام سوی دی".

زما د خاوند زما دا خبري هیڅ نه خوښېدلې. او د هغه دا هم نه خوښېده چې زه د عایشې کور ته ولاړه سم. ځکه زما خاوند هغوی د ځان ستر دښمنان بلل. ماته به یې تل د دوی بد ویل او خپله به یې هم هیڅ کار نه ورسره درلود. خو ما به د خپل خاوند خبري نه منلې او هره ورځ به د عایشې کور ته ورتلم، او هغې به هم زما سره ډېره ښه رویه کول. هغه ډېره ښه ښځه وه. زما سره به یې داسې وضع کول لکه زه چې یې سکه خور وم. ما د هغې سره ډېر خوی نیولی وو. اوس د هغې سره زما مجلس او خبري کول یو ډول عادت ګرځېدلی وو. د هغې هري خبري پر ما باندې یو ډول اغېزه کول. اوس ما تر غرمې پورې په دفتر کې کار کاوه او پسله غرمې به کور ته راتلم. په کور کې به مې د کور کار مار وکړ او کله چې به بې کاره سوم خپله مطالعه به مې کول.

☆ ☆ ☆

يوه ورځ زه د عايشې له خبرو څخه پوه سوم چې د هغې خاوند دلته مسلمانانو تـه د اسـلام تبليـغ کـوي. هغـه کـوم بـل کـار نـه درلـود. د مسلمانانو پـه سيمه کې به يې پـه مسجد کې هغو تـه د دعوت او تبليغ کار پر مخ بيوی، او خلک به يې د اسلام لورې ته بلل. عايشې دا خبره زما څخه پټه ساتلې وه. ځکه هغوی د دې خبرې له ويلو څخه بېرېدل او نه يې غوښتل چې څوک پـه دوی خبر سي. خو کله چې عايشې زما سره ډېر وخت تېر کړ او پر ما يې باور او اعتماد هم ډېر سو نو په خبرو خبرو کې يې له خولې راته را ووتل. پر ما باندې دې خبرې کومـه بـده اغېـزه ونـه کـړه. خـو مـا دا خبـره لـه خپـل خاونـد څخـه پټـه وساتل. ځکه زما خاوند له ډېر پخوا څخه د مسلمانانو مخالف وو. که چيـرې پـوه سـوی وای چې هغـوی د اسـلام ديـن زمـوږ پـه هيـواد کې خپروي، نو خامخا يې هغوی ته کومه ستونزه ايجادول او په دې هکله يې پوليسو يـا بـل چاتـه اطلاع ور کـول. د عايشې او خاونـد دلتـه پـه امريکا کې يو څو نورې مياشتې پاتـه وې او بيا د خپلې دندې د تـر سره کولو وروسته، بېر ته خپـل هيـواد تـه تلل. کله چې زه پـوه سوم چې دوی د اسلام د مقدس دين د دعوت او تبليغ دنده پر مخ بيايي، نـو مـا فکـر وکـړ چې زه بايـد د اسـلام د ديـن پـه هکلـه لـه دوی څخـه معلومات ترلاسه کړم او د هغو پر بنسټ څېړنه پـر وکړم. خـو د دې لپاره ما بايد ډېره مطالعه کړې وای. اوس ما موکه موندلې وه چې د اسلام د دين په هکله نور معلومات تر لاسه کړم.

بله ورځ زه د عايشې کور ته ورغلم او هغې ته مې وويل: "عايشې! تـه خـو پوهېږې چې زه د هـر مـذهب پـه هکلـه څېړنـه کـول غواړم او اوس تاسې ماته ډېر نژدې ياست. زه غواړم چې ستا څخه يا ستا لـه خاوند څخه ستاسې د مذهب په هکله ډېر څه تر لاسه کړم. زما سره په دې کار کې يوازې ته مرسته کولای سې".

عايشې راته وويل: "دا خو ډېره ښـه خبـره ده، ولـې نـه، زه بـه تاتـه دخپل دين په هکله معلومات درکړم. خو ته داسې وکړه، زه به تاته

یو قرآن کریم در کړم چي په انګرېزي ژباړل سوی دی. ته لومړی هغه ښه مطالعه کړه. نور به نو ته خپله په هر څه پوه سې". ما لږ څه په اریانتیا سره ورته وویل: "قرآن کریم مطالعه کړم؟!".

عایشې راته وویل: "هو! ته په دې کي څه ستونزه لرې؟ د هر مذهب په هکله د پوهېدو لپاره د هغه مذهب سپېڅلی کتاب مطالعه کول ډېر اړین وي. ته خو یې یو وار مطالعه کړه، بیا به درته څرګنده سي چي حقیقت څه دی".

عایشه ډېره زیرکه ښځه وه هغې به زما هره ستونزه راآسانه کول. ما چي د عایشې خبري واورېدلې، ومي ویل چي دا ښه وایي د یوه مذهب د څېړلو لپاره د هغه مذهب مقدس کتاب مطالعه کول ډېر اړین دی. نو مي د ځانه سره پرېکړه وکړه چي هرو مرو باید قرآن کریم مطالعه کړم.

بله ورځ عایشې په خپل خاوند باندي زما لپاره یو قرآن کریم راوغوښتی چي په انګرېزي ژباړل سوی وو او ما ته یې راکړ. ما د هغه قرآن کریم په مطالعه پیل وکړ. ما اوس د مطالعې لپاره ډېر وخت درلود. هره ورځ به مي د قرآن کریم لږ لږ تلاوت کاوه. او د اسلام دین او نور مذهبونه به مي سره پرتله کول. او په کوم څه چي به نه پوهېدم د هغه په هکله به مي له عایشې یا د عایشې له خاوند څخه پوښتنه کول. په دې وخت کي نژدې یوه میاشت تېره سوه. د قرآن کریم په مطالعه کولو سره زما په ژوند کي نور هم ډېر بدلونونه رامنځته سول. اوس زه هم په حقیقت پوه سوم او هم د اسلام په هکله پوه سوم چي حقیقت څه دي؟ زما اوس د ښځو او نارینه وو له اختلاط څخه بد راتلل. د حجاب پلوی سوم. د حرامو او حلالو توپیر مي کولای سوای. او په دې هم پوه سوم چي اسلام ولي د کفر سره تل تر تله په جګړه کي دی؟ او د دې تر څنګ زما په اسلام کي تر هر څه زیات دا خوښېده چي په اسلام کي د بت، انځور او داسي نورو په لاس جوړو سوو شیانو عبادت نه کېدی. پر قرآن کریم سربېره ما له عایشې څخه نور اسلامي کتابونه کوم چي په انګرېزي

ليکل سوي وه، واخيستل او د مسلمانانو او کفارو او د هغو د جګړو او اړيکو د سوابقو ټول تاريخ مي مطالعه کړ. زما خاوند به زيات وختونه زما سره پر دې خبرو باندي خوابدی کېدی او لور خو مي بيخي زما خبري نه منلې. هغو له عايشې څخه ډېر بد وړل او غوښتل يې چي عايشې دوی دی ژر تر ژره له دې ځايه څخه ولاړ سي. خو زما زړه ورځ تر بلي د هغو لوري ته نژدې کېدی، چي ښايي په دې کي به زما خير وو.

زما خاوند به د شپې ډېر نا وخته کور ته راتی. يوه ورځ په دفتر کي زما يوې همکاري راته وويل چي ستا خاوند زما د خور سره اړيکي لري. زما خور ته يې دروا غ ويلي دي چي زه مېرمن نه لرم. هغه تر نيمو شپو پوري د هغې سره ګرځي هغه يې هم خطا ايستلې ده او ستا سره هم په چم کي دی. اوس لا ډېر وخت نه دی تېر سوی خپل خاوند دي اصلاح کړه. داسي نه چي سبا ستا لپاره ستونزه را منځته سي.

پر ما باندي زما د همکاري خبري ډېره بده اغېزه وکړه. ما له خپل خاوند څخه دا توقع نه درلوده. د دې په اورېدو سره مي له خپل خاوند څخه ډېره کر که وسوه. کله چي د شپې زما خاوند د نشې په حال کي کور ته راغی، نو ډېره ورته په غوسه وم. او د جنګ لپاره چمتو ناسته وم. هغه د نشې په حال کي وو او په هيڅ نه پوهېدی او ژر بيده سو. ما هم د شپې هيڅ ورته ونه ويل. ځکه هغه مهال زما خبرو هيڅ ګټه نه درلوده. ټوله شپه مي ويښه تېره کړه او د خپل خاوند په هکله مي فکر کاوه. کله چي سهار سو، د چايو څښلو پر وخت مي ورته وويل: "ماښام چيري وې؟".

خاوند مي راته وويل: " په دفتر کي مي کارونه ډېر درلودل، ځکه نو را باندي ناوخته سو".

د خاوند د دې درواغو په اورېدو سره نوره هم په قهر سوم او ورته ومي ويل: "ښه! ډېر ښه کارونه دي پسي را اخيستي دي. رشتياهم په اوس شپو کي ډېر بوخت معلومېږې . زه په هر څه خبره سوې يم ولي د بلي ښځي ژوند وربربادوې؟ اخير په دې کار کولو سره تاته

څه گټه رسيږي؟".

زما خاوند چې زما قهر وليدی نو ژر را نژدې سو او راته ويې ويل: "ښځه ! ښځه څوک ده، ماري ته څه وايې؟".

ما ورته وويل: "بس نور درواغ مه راته وايه . اوس دي هم ډېر درواغ راته ويلي دي. اوس زه خبره سوې يم چې ته تر نيمو شپو پوري چيري يې او څه کوې؟".

زما خاوند زما دواړه بازوگان ټينګ کړه او په ډېره مينه يې راته وويل: "او ماري ته ولي ناحقه په غوسه کيږې. هغه دغسي يوه ښځه ده. هغه زما سره په دفتر کي کار کوي؛ زما او د هغې تر منځ بله کومه اړيکه نسته".

ما په داسي حال کي چې د هغه لاسونه مي له ځانه ليري کړه ورته وويل: "درواغ ! ته بيا هم درواغ وايې اوس نور ته ما نسې خطا ايستلای".

زما خاوند چې زما دا کړنه وليده، نو هغه هم په قهر سو او راته ويې ويل: "ماري! زه چې هر څه کوم هغه آزادي ما تاته هم در کړې ده. ته هم ورسه د بل چا سره وگرځه. زه چې په تا هيڅ کار نه لرم، نو ته ولي په ما کار لرې؟ موږ ټول آزاد يو، په دې کوچنيو کوچنيو خبرو پسې مه گرځه".

ما چې د خپل خاوند دا بې پروايي وليده، نو په ډېره اريانتيا سره مي ورته وويل: "څه شي !! دا تاته يوه کوچني خبره ښکاري ؟! ته چې د بلې پردۍ ښځې سره تر نيمو شپو ورک يې، نو دا يوه کوچنۍ خبره ده؟ ته هره شپه شراب خورې او د نشې په حال کي کور ته راځې، دا يوه کوچنۍ خبره ده؟ او اوس ما هم دې کار کولو ته هڅوې چې زه هم ستا په شان گناهگاره سم؟ دا اوس تاته کوچنۍ خبره معلوميږي؟ که دا کوچنۍ خبره وي نو غټه خبره به لا څه وي؟".

زما خاوند چې زما خبري واورېدې کرار يې راته وويل: "ماري! دا ته څه وايې، په تا څه سوي دي. يو وار ډونا ته په غوسه کيږې چې

هغه ولي د هلکانو سره ګرځي. اوس بیا په ما پسې یې. او اوس تا ته شراب څښل هم ګناه ښکاري؟".

ما ورته وویل: "هو، ته چي هر څه وایې ویې وایه، خو اوس زما له دې کارونو څخه کرکه کیږي. ما ته دا کارونه ستره ګناه معلومیږي. زما دا کارونه نه دي خوښ او هیڅ وخت به زما وجدان دا ناوړه عملونه قبول نه کړي".

زما خاوند چي زما دغسي نابلدي خبري واورېدې، مخ یې تک سور سو او په خورا قهرجنه لهجه یې راته وویل: "ماري داسي مه وایه! داسي ولي نه وایې چي تا اسلام قبول کړی دی. ستا دا ټولي خبري پر دې شاهدي ورکوي چي ته مسلمانه سوې یې. ځکه داسي تاریکي او ټیټي خبري په اسلام کي سته. دا ستا لپاره شرم دی چي ته د خپل پلار او نیکه مذهب پرېږدې او دا اسکېرلی دین قبلوې".

ما چي د خپل خاوند دا خبره واورېده، نو ډېره اریانه سوم او ورته ومي ویل: "ما اسلام نه دی قبول کړی. زه یوازي د حق پلوی یم او د حق پلوي دا معنا نه لري چي ما دي د اسلام دین منلی وي".

زما خاوند راته وویل: "ته اوس هم زما څخه دا پټوې چي تا اسلام قبول کړی دی. خو زه له ډېره وخته تا ته متوجه یم چي ته د اسلام ننګه کوې او خپل دین ته په سپکه سترګه ګورې. دا ستا لپاره شرم دی. نه پوهېږم چي تا د مسلمانانو په دې وروسته پاته دین کي څه ښېګڼه لیدلې ده. خامخا د هغو چالاکیو غولولې یې. په دې پوه سه چي په اسلام کي ښځه هیڅ ارزښت او درنښت نه لري. بې عقله کیږه مه. په اسلام کي ته هیڅ شی هم نه سي تر لاسه کولای. ته لیونۍ سوې یې".

ما چي د خپل خاوند دا خبري واورېدلې ډېره اریانه سوم چي هغه ما ته څه وویل. هغه ولي پر ما باندي دا شک کوي چي ما اسلام قبول کړی دی. آیا زما خبري دوني اسلام ته نژدې دي چي اوس زما خپل خاوند پر ما باندي شک کوي. په هغه ورځ زه ډېره وارخطا وم. فکر

مي کاوه چي په رښتيا سره هم زما فکر او خبري ټولي پر دې شاهدي ورکوي چي ما پټ په زړه کي اسلام قبول کړی دی. خو په خوله مي ځرګند کړی نه دی. په رښتيا سره هم په هغه ورځ زما خاوند زه خپل ځان ته متوجه کړم. ما ټوله ورځ په دفتر کي په دې فکر کولو باندي تېره کړه. کله چي غرمه کور ته راغلم ډوډۍ مي لا نه وه خوړلې چي د عايشې کور ته ورغلم. عايشې ته مي د سهار د جنګ ټوله کيسه وکړه او ور ته ومي ويل: "عايشې ! ته رښتيا راته ووايه، آيا رښتيا زما خبرو د پخوا په پر تله بدلون موندلی دی؟ زه رښتيا د اسلام په پلوي خبري کوم؟".

عايشې راته وويل: "هو ! ماري که رښتيا در ته ووايم ته له لومړي سره د اسلام پلوۍ وې، او اوس هم يې. ما چي تا ته هره خبره د اسلام په هکله کړې ده تا هغه ښه او غوره بللې ده. او هغه دي په زړه کي منلې ده. ستا ټل حق خوښ وي، او حق يوازي د اسلام په دين کي موجود دی. تا په رښتيا سره په زړه کي اسلام راوړی دی. خو په خوله دي شاهدي نه ده ادا کړې. هيله لرم چي ډېر ژر به يې په خوله هم شاهدي ادا کړې. ما دا خبره دمخه نه در ته کول، ځکه فکر مي کاوه چي د دې خبري په کولو سره به ستا زما څخه خوابده سي. ښه اوس ته دا راته ووايه چي ته ولي اسلام نه قبولوې؟".

ما چي د عايشې دا خبره واورېده، نو ډېره وارخطا سوم او د وارخطايي په حالت کي مي ور ته وويل: " څنګه ! آيا زه اسلام قبول کړم؟".

عايشې راته وويل: "هو ! اسلام قبول کړه. ماري ته په دې هکله فکر وکړه، دا به ستا لپاره ډېر ښه وي، په دې سره به دي وين او دنيا دواړي سمي سي".

هغه ورځ زه ډېره وارخطا سوم او په داسي حال کي چي سر مي په خپلو دواړو لاسونو کي ونيوی عايشې ته مي وويل : " اوه خدايه! زه څه وکړم، زه هيڅ نه پوهېږم چي څه وکړم. ښه دی زه اوس کور ته

ځم بیا به ګورو".
زه چې کور ته راغلم ټوله ورځ مې له ځان سره فکر کاوه چې رشتیا هم ما په زړه کې اسلام قبول کړی دی. کاشکې یې په خوله هم قبول کړم. خو څنګه مې دا کار کړی وای؟ دا کار کول زما لپاره ډېر ستونزمن وو. ځکه د اسلام په قبولولو سره ما خپل خاوند او لور دواړه له لاسه ورکول. او بل د یوه بل مذهب قبلول هم آسانه کار نه دی. خو زما زړه او دماغ ټول د اسلام په مبارک دین مشرف سوی وه. زما د اسلام قوانین، ښوونې او احکام، ټول خوښېدل. ما غوښتل چې د اسلام په نور منوره سم. او د عیسویت د تحریف سوي دین له تورو منګلو څخه ځان خلاص کړم. خو دا خبره په خوله ډېره آسانه وه. اما عملي کول یې ډېر ستونزمن کار وو. ما ټول قرآن کریم مطالعه کړی وو. او د اسلام او نورو مذهبونو پر تلنه مې کړې وه. په ټولو مذهبونو کې اسلام د حق، سلامتیا، سولې، ورورولۍ او غوره سپېڅلی دین وو. ځکه مې نو پرېکړه وکړه چې باید د اسلام دین قبول کړم. ښایي لوی څښتن ﷻ زما سره ډېر ښه کړې وه چې زه یې د کفر له تور تمونو څخه د اسلام د حقیقت او رشتینولۍ رڼا ته راوایستلم، او د دې ښکلي او سپېڅلي دین په نور یې مشرفه کولم. او بل اوس زما ګزاره زما د خاوند سره هم ورځ تر بلې خرابېده. که څه هم ما او خاوند یو د بل په خوښې واده کړی وو، خو اوس داسې حالات رامنځته سوه چې زه مجبوره وم چې له خپل خاوند څخه ځان خلاص کړم او ځنې بېله سم. ځکه زما د خاوند فکر، ذکر، خبرې او ټول کړه وړه زما څخه بېل وه. نه هغه زما خبرې منلې. او نه ما د هغه په خوله کول. اوس زه او خاوند یو بل ته چاړه او غوښې سوي وو. ځکه زما خاوند په ما باندې پوه سوی وو چې ما اسلام قبول کړی دی، او اسلام زما د خاوند ستر دښمن وو. ما د اسلام له قبلولو پر ته بله چاره نه درلوده او په دې کار کې زما سره یوازې عایشې مرسته کولای سوای.
بله ورځ کله چې زما خاوند کار ته ولاړ او لور مې ښوونځې ته

ولاړه. زه کار ته نه ولاړم. سهار د عایشې کور ته ورغلم. عایشې او خاوند یې د سهار چای څښلې. زه هم د دوی سره کښېنستم . دواړو ته مي خپله بټوله کیسه وکړه او ور ته ومي ویل: " زه اوس غواړم چي اسلام قبول کړم،او زما سره په دې کار کي یوازي تاسي مرسته کولای سئ". د عایشې خاوند چي دا واورېده په ډېري خوشالۍ سره یې راته وویل: " څه شي ته اسلام قبلوې؟ وه! دا خو ډېره ښه خبره ده.خو ستا خاوند په دې هکله څه نظر لري؟".

ما ور ته وویل: " هغه خو د اسلام سخت مخالف دی. هغه هیڅ وخت د مسلمانانو سره دوستي نه کړې ده او نه یې کوي. خو ښایي خدای ﷻ زما سره ښه کول غواړي چي زه یې ستاسي سره ملګرې کړم. که څه هم د اسلام په قبلولو سره لږ څه له لاسه ور کوم، خو په بدل کي یې ډېر څه لاسته راوړم. اوس زما وروستۍ پرېکړه دا ده چي زه د اسلام منلو ته چمتو یم، اوس نو تاسي زما سره مرسته وکړئ".

د دې خبري په اورېدو سره عایشه او خاوند یې دومره خوشاله سول چي څه در ته ووایم. ښایي دا د دوی ستر بریالیتوب وو. ځکه د عایشې د خاوند خو دغه کار وو. هغه مسلمانانو ته د اسلام دین تبلیغاوه او زه خو لا عیسوۍ وم چي مسلمانه کېدم. په هغه ورځ د عایشې خاوند او عایشې سمدستي زه هغه ځای ته بوتلم چي غیر مسلمانان پکښي مسلمانانېدل،یعنی اسلام یې راوړی. هلته نور مسلمانان هم وه. ما هلته د شهادت کلمه وویل او د اسلام په سپېڅلي دین مشرفه سوم. هغو زما ډېر تود هر کلی وکړ. زه یې ډېره وهڅولم. ما ته یې مبارکۍ راکړې. او زما څخه یې وغوښتل چي خپل ټول ژوند په پټ او عزت سره د اسلام تر سیوري لاندي تېر کړم. په هغه ورځ زه هم روحاً ډېره خوشاله وم. ځکه هغه تسکین او آرامښت چي ما په اسلام کي لیدی هغه مي تر لاسه کړ او زه ډاډه وم چي زه به په رشتیا سره هم خپل نور پاته ژوند په ډېري خوشالۍ سره تېر کړم.خو کله چي مي خپل خاوند او په تېره بیا خپله لور را

ياد سول لږ خوابدې سوم. ځکه زه يوه مور وم او نه مي غوښتل چي زما لور دي زما څخه جلا سي.

تر دې وروسته چي کله موږ بير ته خپلو کورونو ته راغلو نو په هغه ورځ ما پرېکړه وکړه چي خپل خاوند ته ټوله رشتيا ووايم. ځکه ما نه غوښتل چي نور زه درواغ ووايم او بل اوس دا خبره هم نه پټېده. کله چي زما خاوند د شپې کور ته راغی ما ور ته وويل :

" مانن اسلام ومانه. اوس نو ستا اختيار دی که زما سره ژوند کوې نو ته هم اسلام قبول کړه او که نه نو زما او ستا لاري بېلي دي.ماته طلاق راکړه. ځکه اسلام او کفر هيڅ وخت نه سره يو ځای کيږي اونه يو ځای سوي دي".

زما خاوند چي زما خبري واورېدې، نو مخ يې سور واوښت او له ډېره قهره څخه يې راته وويل: " ښه، هغسي دي د اسلام دا ټيټ دين قبول کړ. ما ويل چي مسلمانان ډېر خطرناک خلک دي او هر وخت دغسي بې عقلان ډېر ژر خطاباسي. اوس به په دې کور کي يا ته اوسيږې يا زه. موږ دواړه بايد اوس دستي سره جلا سو، ځکه زه ستا غوندي پست انسان نه يم. هغسي هم موږ لږ وخت وروسته سره جلا کېدلو، ښه دی چي همدا اوس دستي سره جلا سو".

زما دخاوند د اسلام له دين څخه ډېر بد راتله. ځکه نو زه هم مجبوره وم چي له هغه څخه طلاق واخلم. نو هغه وو چي ډېر ژر مي له هغه څخه طلاق واخيست او د ټول عمر لپاره ځني بېله سوم. خو زما خپله لور ډونا ډېره ارمان وه . ځکه د طلاق په اخيستلو سره هغه هم له ما څخه بېله سوه او د خپل پلار پر خوا سوه او له ما څخه يې کر که کول. تر دې ورځي وروسته ما يو څو شپې د عايشې د کره تېري کړې. هلته د نوو مسلمانو سوو ښځو د تدريس لپاره يو ځانګړی ځای جوړ سوی وو چي د"دار المؤمنات" په نامه يادېدی. څو ورځي وروسته عايشې او خاوند يې زه هلته بوتلم. هغه ځای خاص د نوو مسلمانو ښځو د درس او تدريس لپاره جوړ سوی وو.

کله چې به یوې غیر مسلماني ښځې د اسلام مقدس دین قبول کړ، نو لومړی به د یوه کال لپاره په هغه ځای کې اوسېده، او اسلامي پوهه به یې تر لاسه کول. کله چې به یې یو کال پوره سو بیا د هغې زړه وو چې هر چیري تله.

زه یو کال هلته واوسېدم هلته نوري نوي مسلماني ښځې هم وې. هلته موږ ټولو ته دیني احکام، لمونځ، روژه او اسلامي آداب را ښوول کېدل. کله چې زه هلته ولاړم زما نوم یې واړاوه او د هدیٰ نوم یې راباندي کښېښوی. هلته زما ډېر ښه ژوند وو . زموږ سره به یې ډېره ښه رویه کول. په ډېره نرمي سره به یې ښوونه راته کول. ښه خواړه به یې راکول او همداراز د ژوند کولو ټولي آسانتیاوي موجودي وې. ما خپله هم د اسلام په هکله دمخه ډېره مطالعه کړې وه او هلته هر څه ډېر راته آسانه وه. زه په خپل نوي ژوند کې ډېره خوشاله وم. ما تل د خدای ﷻ شکر کښی چې زه یې له دي ستر نعمت څخه برخمنه کړم. خو له تېر ژوند څخه مي یوازي خپله لور یادېده، او تل به مي دعا کول چې خدای ﷻ دي هغې ته هم هدایت وکړي چې هغه هم د اسلام په دین مشرفه سي. خو دا کار کوم آسانه کار نه وو.

عایشه به په دوو درو ورځو کې هر ومرو ما ته راتله. بیا به یې هلته د دار المؤمنات په باغچه کې زما سره ډېر مجلس کاوه. اوس عایشه پر ما باندي نوره هم ګرانه سوې وه. ځکه تر دې ځایه پوري زما د رارسېدو ستره وسیله عایشه وه. هغه وه چې زه یې تل د اسلام دین ته هڅولم. د هغې سره تر بلدېدو دمخه ما د اسلام په هکله هیڅ معلومات نه درلود. ما به له عایشې څخه د خپلي لور په هکله پوښتنه کول او هغې به ماته څه نا څه خبر راکاوه.

یوه ورځ زه خبره سوم چې زما خاوند بل واده کړی دی او زما لور اوس زما د مور په کور کې اوسېږي. د دې په اورېدو زه ډېره خوابدې سوم، ځکه اوس ما د خپل خاوند پروا نه درلوده، خو پر خپلي لور مي ډېر زړه سوځل کېدی. ځکه هغه اوس هم د مور او هم

دپلار دواړو له نعمته بې برخې سوې وه.

شپې او ورځې دې تېرېږې، زه په هغه ځای کې د خپل خدای ﷻ په عبادت او د اسلامي پوهنو په ترلاسه کولو بوخته وم او تر څنګ مې ډېر اسلامي کتابونه پیدا کړي وه او هغه به مې مطالعه کول. یوه ورځ عایشه راغله او راته وېې ویل: "هدیٰ کېدای سي مور په دې څو ورځو کې بیر ته خپل هیواد ته ولاړ سو. نور نو زموږ وخت پوره سوی دی او دلته نور نه سو اوسېدلای".

ما چې د عایشې د تلو دا ناڅاپي خبر واورېد، نو ډېره خواشینې سوم او ژر مې ورته وویل: " دا څه وایې؟ څنګه! ولې ځئ، اخیر دلته په تاسو څه سوي دي؟".

عایشې راته وویل: "هدیٰ خور ته خو پوهېږې چې په پردي هیواد کي تر ډېره پوري څوک ژوند نه سي کولای . او بل دا چې دلته زموږ نوره ګزاره هم سخته ده. زما خاوند غواړي چې خپل هیواد ته ولاړ سي، نو زه دلته یوازې څنګه واوسم؟".

د عایشې په تلو سره زه ډېره خوابدې سوم. ځکه اوس ما پر ته له دوی څخه بل څوک نه درلود او د دوی سره زه ډېره آموخته سوې وم. او بل عایشه یوه داسې انسانه وه چې ما په خپل ژوند کې تر دې مؤدبه او د ښو اخلاقو څښتنه نه وه لیدلې. زه او دا دواړې ډېرې ټینګې دوستانې هم وو. ځکه نو د دوی په تلو زه ډېره غمجنه سوم.

بله ورځ عایشه د خپل خاوند او کوچنیانو سره یو ځای دار المؤمنات ته راغله او راته وېې ویل چې بله اوونۍ موږ له دې ځایه ځو. زه د دوی په تلو نوره هم خواشینې سوم . خو څه مې کړې وای دوی هم نور دلته نه سوای اوسېدلای، او هغسې هم دوی دلته د څو میاشتو لپاره راغلي وه. عایشه او خاوند یې هم زما څخه په جلا کېدو باندې ډېر خوابدې وه. ځکه هغو هم زما سره ډېر عادت نیولی وو .او اوس بیا تر پخوا ډېره ورته ګرانه وم. عایشه د خدای په امانۍ لپاره راغلې وه. خو ما ورته وویل چې په دې اوونۍ کې به یو وار زه ستاسې

کور ته درسم. دوی زما سره په هغه ورځ تر ډېره پوري کښېنستل. موږ ډېري خبري سره وکړې. بیا ماښام ښه ناوخته راڅخه ولاړل.

ما دوې ورځې په ډېري خوابدتیا سره تېري کړې. ځکه زما سره د دوی د تلو ډېر غم وو. دوې ورځې وروسته ما د دار المؤمنات له مشر څخه د تلو اجازه واخیستل او د عایشې کور ته ورغلم. کله چي زه هلته ولاړم لومړی مي سترګي پرخپل کور ونښتې. زما کور قلف وو. د کور په لیدو سره ماته خپله لور راپه یاد سوه او سترګي مي له اوښکو ډکي سوې. ځکه زه پوهېدم چي تر دې ورځې وروسته زه بیا هیڅ وخت دلته نه راځم. زه د عایشې کور ته ورغلم. هغوی زما په لیدو ډېر خوشاله سول. هغو خپله ټوله کډه ټوله کړې وه. ډېر ستړي او ستومانه معلومېدل. په هغه ورځ ما د دوی سره ډېر وژړل. باور وکړئ چي تر اسلام قبلولو وروسته ما ډېري خوشالۍ لاسته راوړې. خو دوې ډېري بدي خاطرې هم لرم. یوه دا چي زما لور راڅخه جلا سوه. او بل د عایشې بېلتون وو. کله چي ما ژړل نو عایشې راته وویل: "هدیٰمه ژاړه. کېدای سي یو وخت موږ بیرته سره نژدې سو. ته څه خبره یې چي زما په تلو سره به تاته یو داسي څوک پیدا سي چي هغه به تاته تر موږ هم ډېر نژدې وي. زما هم ډېره ارمانېږې چي داسي یوازې دي پرېږدم. خو خدای ﷻ ستا سره دی. ته یوه مسلمانه، پاکه، نېکه او ښه ښځه یې، نو خدای ﷻ هم ستا سره ښه کوي. ته صبر وکړه خدای ﷻ به هر څه سم کړي".

ما په داسي حال کي چي له سترګو مي اوښکي بهېدلې ورته وویل: "عایشې ته خو ښه وایې، خو زه اوس ډېره یوازې سوم. زه به یوازې څنګه ژوند تېر کړم؟".

دوې ورځې وروسته عایشه د خپل خاوند او کوچنیانو سره خپل هیواد ته تله. په هغه ورځ زه تر ډېره پوري د دوی سره وم. ما دوی ته د خپل ګرځنده ټلیفون شمېره او برېښنالیک پته هم ورکړه. بیا په ما پسې د دار المؤمنات موټر راغی او ما د دوی څخه د خدای په اماني

واخیسته او ځنې راغلم. دوې ورځې وروسته عایشه د خپل خاوند او کوچنیانو سره یو ځای خپل هیواد ته ولاړه.

☆ ☆ ☆

د عایشې په تلو سره ما ځان ډېر یوازې احساساوه. زما څخه نه یوازې زما لور او خاوند جلا سوی وه، بلکې زما مور او نورو خپلوانو هم کر که را څخه کول. خو پر دې ټولو سربېره زه په خپل رشتیني او ویاړلي دین اسلام تر حد تېره خوشاله وم. ټوله ورځ به مې خپل عبادتونه کول. پر وخت به مې لمونځونه ادا کول، د قرآن کریم تلاوت به مې کاوه او تر څنګ به مې خپلې لیکنې او مطالعې هم کولې. ما د یوه کال په موده کې دوه کتابونه ولیکل، چې هغه هم د اسلام په هکله وه. هلته نورې مسلمانانې ښځې هم وې . د هغو سره مې سات تېر وو . خو خپله لور او عایشه مې ډېرې یادېدلې. ما خپل کار هم پرې ایښی وو. په بانک کې مې ډېرې پیسې درلودې، خو هغوته مې هیڅ اړتیا نه درلوده. هلته زما د خوړو او کالو ټول خرڅ د دار المؤمنات لخوا راکول کېدی. هلته زما هیڅ دوست او ملګرې په ما پسې نه راتی. خو ما د هغو هیڅ پروا نه درلوده . ځکه زما له هغو څخه کر که کېده. د هغو له وحشیانه ژوند او ژواک څخه مې زړه تور سوی وو. اوس زه هلته آموخته سوې وم. ما هلته یو کال تېر کړ. د یوه کال په موده کې یې موږ ته ډېر دیني احکام را زده کړل او اوس زه د اسلام په ډېرو احکامو پوه سوې وم. کله چې به هلته د نوو مسلمانو سوو ښځو یو کال پوره سو، نو به یې اجازه درلوده چې هر چیرې یې زړه غواړي هلته ولاړې سي. ترهغه وروسته ما دار المؤمنات ته نژدې یو کوچنی کور کرایه کړ. ما خپل موټر او ډېرې پیسې په بانک کې درلودې او ښه ګزاره مې په کولای سوه. چاته اړه نه وم. څنګه چې ما د دیني احکامو په هکله ډېره مطالعه کړې وه او په مسایلو یې پوه وم. ځکه نو یوه ورځ د دار المؤمنات مشر ما ته ټلیفون

وکړ او را څخه ويې غوښتل چې په دار المؤمنات کې نوو مسلمانو سوو ښځو ته د استاد په توګه ښوونه وکړم. ځکه هغوی پوهېدل چې ما د اسلام په هکله ډېره څېړنه کړې ده او په اړه يې ډېر معلومات لرم. څنګه چې زه هم په کور کې يوازې وم او بله کومه بوختيا مې نه درلوده، نو دا دنده ډېره ښه راته څرګنده سوه . ځکه نو ما هم ومنل . وروسته ما په دار المؤمنات کې د تدريس او ښووني دنده پيل کړه. زه په خپله دنده ډېره خوشاله وم. ځکه له يوې خوا دا د اسلام لپاره ستر خدمت وو. او له بلې خوا اوس زه په کور کې بې کاره هم نه وم ناسته. تر غرمې پوري به ما هلته درس ورکاوه. او د دې کار په بدل کې ماته ښه معاش هم راکول کېدی. زه به په اسلامي حجاب کې هلته تلم او بير ته به غرمه خپل کور ته راتلم. د دار المؤمنات تر څنګ د نوو نارينه مسلمانو سوو لپاره هم د درس ور کولو بېل ځای وو. د دغه ځای په استادانو کې يو هم حسن نوميدی. حسن د هغه ځای مسلمان وو . دی يو نامتو ليکوال او يو پوه شخصيت وو او تر څنګ يې د ښو اخلاقو څښتن هم وو . ده خپل ټول عمر د اسلام خدمت ته وقف کړی وو. يوه ورځ حسن زما سره وليدل او زما د مسلمانېدو او زما د ليکنو ډېره ستاينه يې وکړه. تر هغې ورځې وروسته چې به ما د کومې مسئلې په هکله ستونزه درلوده يا به په يو څه نه پوهېدم، نو د هغه په هکله به مې له حسن څخه پوښتنه کول. او حسن به په خورا ورين تندي جواب راکاوه. اوس ما د حسن په شتون کې د يوازيتوب احساس نه کاوه. ما خپل پخواني ژوند کرار کرار هېر اوه او په ژوند کې مې لږ لږ نوي بدلونونه تر ستر ګو کېدل.

يوه ورځ زه په دار المؤمنات کې د خپلې يوې ملګري له خولې خبره سوم چې حسن تر اوسه پوري واده نه دی کړی، او د هغه زه ډېره خوښېږم او اوس هغه غواړي چې زما سره واده وکړي. د دې خبري په اورېدو زه ډېره پرېشانه سوم. ځکه اوس ما د واده کولو په هکله هيڅ فکر هم نه وو کړی. ما نه غوښتل چې بل واده وکړم .

خو کله چي مي خپل يوازيتوب ته وکتل، نو د ځانه سره مي فکر وکړ چي د ژوند تر پايه پوري زه هم دغسي يوازي بې اولاده نه سم اوسېدلای او تر ډېره پوري زما يوازي اوسېدل هم ستونزمن وو. ځکه نو تر ډېر فکر کولو وروسته ما هم د حسن سره واده کولو ته زړه ښه کړ. د حسن عمر هغه وخت نه څلوېښت کاله وو. او زما عمر د دوو څلوېښتو کالو وو. زما د حسن خويونه او اخلاق ډېر خوښېدل. موږ دواړو په ډېرو ساده مراسمو سره نکاح وتړل او تر هغې ورځې وروسته زه د حسن سره يو ځای د هغه په کور کي اوسېږم. د حسن سره زه ډېره خوشاله يم. ځکه حسن د ډېرو ښو خويونو څښتن دی. د هغه زيات خويونه زما په شان دي. حسن زما هم فکره او هم نظره دی. هغه يو مسلمان او ډېر سپېڅلی انسان دی. زه په دې باندي وياړم چي حسن زما خاوند دی او زه يې مېرمن يم. حسن هم زما سره ډېر خوشاله دی. ځکه هغه هم زما په شان مېرمني په پيدا کولو سره ډېر څه لاسته راوړل. هغه به ماته ويل چي ما تل له خدای ﷻ څخه داسي پاکه، پوه او اديبه ښځه غوښتل او اوس خدای تعالی زما دا هيله را بشپړه کړه. تر واده کولو وروسته حسن زه له خپله کاره راونه ګرځولم. موږ دواړه سهار خپلو وظيفو ته ځو. زه ښځو ته او حسن به نارينه وو ته د اسلامي زده کړو ښوونه کوي. زه له خدای ﷻ څخه ډېره راضي يم. او تر څنګ يې ډېره خوشاله هم يم. ما خپل پخوانی ژوند ګردسره هېر کړ. خو کله کله چي به ماته زما لور ډونا را په ياد سوه، نو ډېر به مي ژړل او تل به مي خدای ﷻ ته دعا کول چي خدای ﷻ دي زما لور ته هم هدايت وکړي. خاوند ته خو مي دعا پر خوله نه راتله. ځکه هغه نه يوازي بد مېړه وو، بلکي يو بد پلار هم وو.

يوه ورځ مي خپله لور ډېره وياد ېده. نور مي د صبر کاسه ډکه سوې وه. ځکه نو د هغې د ليدو لپاره د هغې ښوونځي ته ولاړم. کله چي زما لور د ښوونځي اداري ته راغله، نو زما په ليدو يې ستر ګي له اوښکو ډکي سوې. ما هم ډېر و ژړل او هغه مي ټينګه په غېږ کي ونيول. زما

لور تر پخوا غتېه سوې وه. هغې ماته د ژړا په حالت کې وویل چې ته مې ډېره یادېږې. زما پخواني خاوند زما لور له کوره ایستلې وه. هغه اوس زما د مور کره اوسېده. ما هغې ته زما د واده په هکله وویل او دامې هم ورته وویل چې ته زما خبره ومنه اسلام قبول کړه. او زما سره ولاړه سه زما زړه نه غواړي چې تا دغسې یوازې پرېږدم. زه یوه مور وم او نه مې غوښتل چې اولاد مې په دغسې بد حالت کې پاته سي. خو زما لور زما په دې خبره راضي نه وه. ځکه هغه له کوچنيوالي څخه همدغسې لویه سوې وه. او اوس هغه سر تر نوکه د تحریف سوي عیسویت په تورو ترږمیو کې ډوبه سوې وه. هغه لا زما څخه پر دې خبره خوابدې وه چې ما ولې اسلام قبول کړ. ځکه زما خاوند، مور او نورو خپلوانو دې ته زما په هکله ډېري بدي خبري کړي وې، او اوس د دې په مغزو کې زما په هکله دغو خبرو ځای نیولې وو. ما نیم ساعت د خپلې لور سره خبري وکړې، او بیا بیر ته خپل کور ته راغلم. زما لور نه غوښتل چې زما سره واوسیږي ځکه هغې د مسلمانانو څخه کرکه درلوده. اوس هغه خپل قانوني عمر ته رسېدلې وه او حق يې درلود چې هر چیري چې يې زړه وغواړي هلته واوسیږي.

له هغې ورځې وروسته بیا ما ډېر عمر خپله لور ونه لیده. یوه ورځ زه بیا د هغې ښوونځي ته ورغلم او د خپلې لور د لیدو غوښتنه مې وکړه. خو په هغه ورځ هغې زما سره سمه رویه ونه کړه، او ماته يې په بده ستر ګه کتل. ښایي زما لور د هغې بلې ورځې د لیدو کتو په هکله زما مور ته څه ویلي وه او زما مور او نورو خپلوانو زما لور ته بد او رد ویلي وي. کله چې زه کور ته راغلم زما مور ماته ټلیفون وکړ او په ډېره بده او ترخه لهجه يې راته وویل چې بله ورځ زما د لمسۍ سره ونه ګورې. ته خو مسلمانه سوې یې، اوس غواړې چې زما لمسۍ هم بې لاري کړې؟ اوس ته پر دې باندې هیڅ حق نه لرې، دا ستا هیڅ نه ده.

زما مور زما سره ډېره بده رویه وکړه. په هغه ورځ ما ډېر وژړل او د ځانه سره مې پرېکړه وکړه چې بیا به زه د خپلې لور سره نه ګورم.

خو په زړه کې به مې تل خدای ﷻ ته دعا کول چې پاکه ربه ! زما لور او ما سره یو ځای کړې. ځکه زه یوه مور وم او مور تل د خپل اولاد ښېګڼه غواړي.

☆ ☆ ☆

د خدای شپې او ورځې دې تېرېږي. په دې ترڅ کې اووه کاله نور تېر سول. زه په خپل ژوند کې ډېره خوشاله وم. او اوس ما داسې احساس کاوه چې زه په بشپړه توګه د اسلام په ستر سمندر ورګډه سوې یم. ځکه اوس زما ژوند نور هم ډېر بدلون موندلی وو. اوس ما یوه لور او یو زوی هم درلودل. هغو دواړو په یوه اسلامي ښوونځي کې زده کړې کولې او د اسلام تر سیوري لاندې روزل کېدل. ما خپل دواړه اولادونه په ټولو اسلامي احکامو سمبال کړي وه. هغو د ښوونځي د زده کړو تر څنګ د قرآن کریم زده کړه هم کول. زه اوس ډېره بدله سوې وم. د حسن سره تر یو ځای کېدو وروسته هغه زه نوره هم د خپل پخوانی ژوند څخه د اسلام لوري ته راواړولم. اوس زما پخوانیو دوستانو زه هیڅ نه پېژندلم چې زه هغه ماري یم که هدی[1]؟

یوه ورځ زما یوې ملګرې چې له پخوا څخه زما ډېره ټینګه ملګرې وه او د اسلام تر قبلولو وروسته هم زما ملګرې پاته سوې وه، ما ته ټلیفون وکړ او راته ویې ویل چې ستا لور ډونا د یوه مسلمان هلک سره مینه لري او هغه هلک په دې شرط د دې سره واده کوي چې دا اسلام قبول کړي. اوس ستا لور غواړي چې ستاسره ووینې. هغې ته ستا د کور پته نه وه معلومه. له دې امله ما ته راغلې وه او ما هم هغې ته ستا د کور پته ورکړه. ښایي نن مازدیګر کور ته درسي.

د خپلې ملګرې د خبرو په اورېدو سره زما له سترګو د خوشالۍ اوښکې په بهېدو سوې او د خدای ﷻ شکر مې ادا کړ. ځکه دا زما یوازنۍ هیله وه او هغه هم خدای ﷻ ډېر ژر را بشپړه کړه. هیڅ مې

دا خبره زړه ته نه لوېده چي داسي به کيږي. په هغه ورځ زه دونه خوشاله وم چي خپله خوشالي د قلم په نوک نه سم بيانولای. ما دا خبره ژر حسن ته وکړه. هغه هم د دې خبري په اورېدو ډېر خوشاله سو. اوس نو زه د خپلي لور ليدو ته په ډېره لېوالتيا منتظره وم. او غوښتل مي چي ژر تر ژره خپل دغه د زړه ټوټه ووينم. ځکه ما په دې اوو کلونو کي هغه نه وه ليدلې. مازديګر کله چي د دروازې زنګ ووهل سو، نو د کوچنيانو د مخه زه په ډېري چټکۍ سره دروازې ته ور ووتلم. کله چي مي دروازه خلاصه کړه خپله هغه ګلالۍ او ډېره ښکلې لور مي مخامخ راته ولاړه وليده. ژر مي خپل غېږه ورته پرانيسته او ټينګه مي په غېږ کي ونيول او ښه مي ورسره وژړل. زما لور ډېره غټه سوې وه او اوس په هره خبره پوهېده. په هغه ورځ مور ټول ډېر خوشاله وو. فکر مي کاوه چي خدای ﷻ زما د دعا د قبلولو لپاره هغه مسلمان هلک چي زما لور مينه ور سره درلوده، لامل کړی وو. زما د لور اوس زما څخه کر که نه کېده او غوښتل يې چي د هغه هلک سره واده وکړي. هغې زمونږ مرستي ته اړتيا درلوده. زه د خپلي لور له دې کار څخه ډېره خوشاله سوم. او د هغې سره مي د مرستي کولو ژمنه وکړه.

بله ورځ زما لور د هغه هلک سره يو ځای دار المؤمنات ته تللې وه او اسلام يې قبول کړی وو، او هلته يې د هغه هلک سره نکاح هم تړلې وه. تر نکاح وروسته زما لور ماته له هغه ځايه څخه ټليفون وکړ او پر ما باندي يې د خپلي مسلمانۍ زيری وکړ. ما هيڅ فکر نه کاوه چي دا کار به دونه ژر تر سره کيږي. زما مور او نور خپلوان هم زما په لور خبر سوي وه. او زما د لور څخه هم خوابدی سوي وه. او تل به يې ويل چي دې هم د هغې بې وفا مور شيدې رودلي دي چي داسي کار يې وکړ. خو زه په خپلو شيدو باندي وياړم. ځکه زما په شيدو کي دونه اغېز وو چي زما لوريې هم زما په شان د اسلام په سپېڅلي دين مشرفه کړه. اوس نو زما ټولي هيلي بشپړي سوي وې. اوس ما

په ژوند کي هيڅ ارمان نه درلود. ما چي په ژوند کي له خدای ﷻ څخه څه غوښتل هغه يې را په برخه کړي وه. عايشې به هر وخت زما سره په ټليفون کي خبري کولې او راته ويل به يې چي زه يې ډېره يادېږم. زما خپله هم عايشه او د هغې کوچنيان ډېر يادېدل او تل به مي د هغو لپاره دعاوي کولې.

اوس زما د اسلام د قبلولو ډېر کلونه تېر سوی دی. زما يوه لور او يو زوی دواړه غټان سوي دي او په خپلو زده کړو بوخت دي. او زما بله لور ډونا چي اوسنی نوم يې تقوی دی د خپل خاوند سره خوښ خوشاله ژوند لري. د هغې هم دوه کوچني کوچني ګلالي ماشومان دي. حسن په خپله پخوانۍ دنده کي نور هم بريالی سوی دی او په پرله پسې توګه خلکو ته د اسلام دين تبليغوي. زه هم د پخوا په شان په خپله دنده بوخته يم. په اسلامي چارو کي مي ډېر معلومات ترلاسه کړي او ډېري ليکني مي هم کړي دي، چي ټولي د اسلام د سپېڅلي دين په هکله دي. زه تل له خدای ﷻ څخه غواړم چي خپلو نورو ټولو بنده ګانو ته زما په شان لارښوونه وکړي او د اسلام په نور يې منور کړي.

په دې کتاب کي ما خپل ژوند له کفر څخه بيا تر اسلام پوري په لنډو ټکو کي بيان کړ، څو زه و کولای سم خپلو نورو هغو خوندو او وروڼو ته چي د کفر د تورتم د تورو زندانونو په تيارو ګوټونو کي بنديان دي، د کفر او اسلام مذهبونه يو څه پرتله کړم او د دې تر څنګ تل لوی څښتن ﷻ ته دا دعا کوم چي هغه خپل هر بنده ته د اسلام د دين د حقيقت د څېړلو، ليدلو او درکولو نېکمرغي ور په برخه کړي،آمين يا رب العالمين .

ستاسي مسلمانه خور
هدی

**د لیکوالي لنډه پېژندنه:**

ډېوه همت لور

- د پلار نوم یې استاد عبدالمالک همت.
- د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه ښارکي زیږېدلې ده.
- د کندهار ښار د زرغونې انا د لیسې له دوولسم ټولګي څخه په ۱۳۸۸ ل. کال فارغه سوه.
- په همدغه کال د کانکور په ازموینه کي د کابل پوهنتون د پښتو ادبیاتو پوهنځي ته کامیابه سوه، خو هلته یې د لوړو زده کړو ترلاسه کولو ته زړه ښه نه کړ.
- په همدغه کال یې په کابل کي د سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي ښوونو په څانګه کي د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو لپاره، د کانکور ازموینه ورکړه، او په ۱۳۹۲کال یې له نوموړي پوهنتون څخه د لیسانس سند ترلاسه کړ.
- په ۱۳۹۶ لمریزکال یې د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کي په تفسیر او حدیث کي د ماسترۍ دوره پای ته ورسول.
- له ۱۳۹۲کال څخه تر۱۳۹۷لمریز کال پوري په کابل کي، د افغان پوهنتون د نجونو د برخي استاذه او د نوموړي پوهنتون د ښځینه برخي مسؤوله وه.
- اوس د مورا د ښځینه تعلیمي او تحصیلي کمپلکس د فرهنګي کمېټې مسؤوله ده.
- تر اوسه یې دغه آثار لیکلي دي:

۱. په قرآن کریم کي یوپنا سوي ولسونه، د ماسترۍ تیزس دی، په پام کي ده د کتاب په بڼه خپور سي.
۲. خوندوري کیسې (د کوچنیانو د کیسو ټولګه)په۱۳۸۶ ل.

کال خپره سوې ده.
۳.  د زد ه کړي او ښو و نې آدا ب (ژباړه) ۱۳۸۸په ل.کال خپره سوې ده.
٤.  په اسلامي علم او ادب پسوللي ښځې په  ۱۳۸۹ ل .کال خپور سوی دی .
٥.  د دعوت اصول او آداب (ژباړه) په ۱۳۸۹ل. کال خپور سوی دی.
٦.  د زده کوونکي ډالی په۱۳۹۲ل. کال خپور سوی دی .
۷.  د  کوچنيانو لپاره عبرتناکي قرآني کيسې په ۱۳۹۰ل.کال خپور سوی دی.
۸.  غواړم پرمختګ وکړم خو... په۱۳۹۴ل.کال خپور سوی دی .
۹.  زما ژوند له کفرڅخه تراسلام پوري(ناولیټ)په ۱۳۸۹ل. کال خپور سوی دی .
۱۰. پراسلامي نړۍ باندي درسنیوله لاري د یهودو یرغل، (ناچاپ).
۱۱. د کوچنیانو د لنډو کیسو دوولس بېل بېل کتابګوټي، ( ناچاپ).
۱۲. په اسلام کي د ښځې حقوق نوي که زاړه؟ (ژباړه)،( ناچاپ).
۱۳. زما د احساساتو انځور، ادبي ټوټې ( ناچاپ).
١٤. د علم د تر لاسه کولو لارښود ( ناچاپ).
١٥. د ادبي صنايعو قرآني بېلګې ( ناچاپ).
١٦. په زړه پوري کيسې ( ناچاپ ).
١٧. پښتو نثر پېژندنه ( ناچاپ ).
١٨. وخت لکه سره زر(ناچاپ).
١٩. د استاذ ډالۍ (ناچاپ).